

# د لوژیو کورنۍ

Ketabton.com

((انګلش قاموس څخه چې متن یې له ویکشنري څخه اقتباس شوی. ))

ژباړه: رحمت شاه فراز

Picture: www.dreamstime.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه

کتاب نوم: د لوژیو کورنۍ
ژبـــــاړه: حمت شاه فراز
کـــــمپوز: رحمت شاه فراز
متــــــن: انګلش قاموس څخه.
نېـــــټه: ۱۵ حوت، ۱۳۹۹ ل.

د ژباړن اړیکې:

موبایل: 38 48 063 78 0093 واټساپ: 611 25 42 311 0092 برېښنلیک: rsfaraz4@gmail.com

د چاپ حق له ژباړن سره خوندي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

سریزه ........ 4
د لوژي پېژندنه ........ 5
الف ........ 5
ب ........ 20
پ ........ 22
ت ........ 28
ټ ........ 28
ج ........ 31
چ ........ 32
ډ ........ 32
ر ........ 34
ز ........ 35
س ........ 37
ف ........ 43
ک ........ 45
ګ ........ 50
ل ........ 51
م ........ 52
ن ........ 56
و ........ 59
هـ ........ 60
ی ........ 63

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

«هغه ټول ویونه به را ټول کړم چې په لوژي (logy) پای ته رسېږي. یو، دوه ساعته وخت به ونیسي او بیا به یې د یوې مقالې په ډول کومې وېبپاڼې ته د خپرولو لپاره واستوم. ډېره ګټه به وکړي. خوند به هم وکړي. نوی کار دی، تر دې دمخه چا نه دی کړی. ښه، نو راځه پیل یې کړه!»

دا هغه فکر وو چې د دې مقالې (چې اوس کتابګی دی) په پیل کې مې کړی وو، خو دغه فکر مې ناسم وو، نه په لوژي پای ته رسېدونکي ویونه دومره کم وو چې ما یې اټکل کړی وو، نه هم د وخت ما ټاکلې اندازه سمه وه او نه مقاله، مقاله پاتې شوه. دغه دی، څو ورځې (چې ما یو، دوه ساعته په نظر کې نیولي وو) وروسته یو کتابګی ترې جوړ شو.

د کتاب په هکله دوه خبرې خورا اړینې برېښي:

یو، په دې کتاب کې ټول (د لغت په اصله او ټوله معنا) هغه ویونه نه دي را اخیستل شوي چې په لوژي پای ته رسېږي، بلکې یوازې هغه را اخیستل شوي چې د یوه علم یا پوهې لپاره کارېږي او یا پخوا کارېدل.

دوه، په دې کتاب کې راغلي ټول علوم (یا لوژۍ) په رښتیني (فلسفي، اکاډمیکه، علمي، ساینسي...) معنا علوم نه دي، بلکې ځینې داسې هم پکې شته چې یوازې په عامیانه او طنزیه ډول کارېږي او ښایي د علم په توګه اصلاً وجود ونه لري؛ یا یوه اصطلاح پخوا د یوه علم لپاره کارېده، خو اوس ورته د نیولوجیزم له مخې یوه نوې کلمه جوړه شوې. راځئ نور به کتاب ولولو؛ خو د یادونې وړ ده چې د لا څېړنې او پلټنې لپاره مو انټرنټ، کتابتونونه او ښوونیز مرکزونه په هر ځای او هر وخت کې په خدمت کې دي.

ستاسو وړاندیزونو او نیوکو ته سترګې په لار

**رحمت شاه فراز**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لوژي پېژندنه

د لوژي کلمې اصل په یوناني ژبه کې دی او په انګلیسي ژبې کې د وروستاړي په ډول کارېږي او د پوهې، پوهنې، علم، معرفت او داسې نورې معناوې ورکوي. په انګلش قاموس کې لوژي په لاندې ډول تعریف شوې: د زده کړې یوه څانګه؛ د یوه څانګړي مضمون مطالعه او څېړنه.

په یاد قاموس کې د لوژي دوهمه معنا د وینا طرز، د خبرو کولو ډول او حکایت یا کیسه راغلې او لاندې څلور بېلګې یې ورکړې: الف) هاپلالوژي ب) یولوژي ج) ټریلوژي د) اپولوژي – د بښنې په معنا.

## د لوژیو کورنۍ

# الف

**۱. اولوژي (oology):** هغه پوهه چې د مرغانو هګۍ څېړي. یا: د مرغانو په تېره بیا وحشي مرغانو د هګیو ټولونې بوختیا او مشغلې ته اولوژي ویل کېږي.

**۲. اکالوژي (acalogy):** هغه پوهه چې طبي درمل تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳. ایکالوژي (ecology):** د بیالوژي هغه څانګه چې د ارګانیزمونو او د هغو د چاپېریال او په خپل منځ کې د ارګانیزمونو اړیکې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴. ایګالوژي (egology):** د هسرل په فلسفه کې هغه علم چې ایګو تر څېړنې لاندې نیسي.

**۵. اډولوژي (odology):** دغه کلمه د برینکرهوف جاکسون له خوا منځته راغلې او هغې پوهې ته ویل کېږي چې سرکونه او لارې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶. اورولوژي (orology):** هغه پوهه چې غرونه او د هغو منځته راتګ تر څېړنې لاندې نیسي، د اورولوژي په نوم یادېږي.

**۷. اوټالوژي (otology):** د طب هغه څانګه چې غوږونه، د غوږونو جوړښت، دنده او ناروغۍ تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸. اوولوژي (ovology):** د طبیعي تاریخ هغه څانګه چې د هګیو منشا او دندې څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹. ابیالوژي (abiology):** د جیولوژي او ستورپوهنې په څېر علوم چې په ګډه ناژوندي او بې ساه موجودات تر څېړنې لاندې نیسي.

**۱۰. اېسیالوژي (aceology):** هغه پوهه چې درمل او یا درملنه څېړي.

**۱۱. ارالوژي(aerology):** د هوا او فضا (تشیال) څېړنې ته ارالوژي ویل کېږي. یا: د میټریالوژي هغه څانګه چې د بالونونو، الوتکو او داسې نورو توکو په مرسته تشیال تر څېړنې او مشاهدې لاندې نیسي.

**۱۲. اګرالوژي (agrology):** هغه پوهې یا فن ته ویل کېږي چې کرهنه او زراعت تر څېړنې لاندې نیسي. د اګرالوژي یو پخوانی تعریف په دې ډول دی: د اګرانومي (له حیواناتو، نباتاتو او ځمکې څخه د ګټې اخیستنې پوهه) او ځمکپوهنې یوه فرعي څانګه چې د غوره حاصلاتو په خاطر پر کښتونو او کروندو باندې د ځمکنیو شرایطو اغېز تر څېړنې لاندې نیسي.

**۱۳. الګالوژي (algology):** د بوټپوهنې یا بوټاني هغه څانګه چې الجیان تر څېړنې لاندې نیسي.

**۱۴. اپیالوژي (apiology):** هغه پوهه چې د شاتو مچۍ او د شاتو جوړېدل تر څېړنې لاندې نیسي، د اپیالوژي په نوم یادېږي.

**۱۵. ارکالوژي (arcology):** ارکالوژي د ښار جوړونې یوه تیوري ده چې د پاولو سولري له خوا وړاندیز شوې. ارکالوژي د درې بعدي ودانیو میتودونه او همدا رنګه د ساحې او سرچینو د اغېزمنې کارونې لارې چارې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۱۶. اریالوژي (areology):** د مریخ ساینسي مشاهدې او څېړنې ته اریالوژي ویل کېږي. یا په بل عبارت د مریخ جیولوژي ته اریالوژي ویل کېږي.

**۱۷. اټمالوژي (atmology):** د ساینس هغه څانګه چې د اوبیزو بخاراتو قوانین او پدیدې تر څېړنې لاندې نیسي، د اټمالوژي په نوم یادېږي.

**۱۸. اټالوژي (atulogy):** د ځان څېړنې او مطالعې ته اټالوژي ویل کېږي. اټالوژي دوه نور تعریفونه هم لري:

یو، په ګرامرپوهنه کې د یوه لغت یا عبارت هغه خصوصیت ته ویل کېږي چې پخپله هغه لغت یا عبارت روښانه کوي.

دوهم ډېر عمومي تعریف یې دا دی چې د یوه نظر هغه وړتیا چې په خپل ځان یې پلي کړای شي، په دې معنا چې ېبرته هغه مفهوم او نظریې ته ارجاع شي.

**۱۹. اکسالوژي (auxology):** د بیالوژي هغه څانګه چې د انسان فزیکي وده تر څېړنې لاندې نیسي یا په عموم کې ویلای شو چې هغه پوهه چې وده څېړي د اکسالوژي په نوم یادېږي.

**۲۰. اکسیالوژي (auxiology):** د ارزښتونو د منشا، فطرت، دندو، ډولونو او خپلمنځي اړیکو څېړنې ته اکسیالوژي ویل کېږي. په بل عبارت د ارزښتونو تیوري، اکسیالوژي بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۱. آيډالوژي (eidology):** هغه پوهه چې ذهني تصورات يا شکلونه څېړي، د آيډالوژي په نوم يادېږي.

**۲۲. ارګالوژي (ergology):** هغه پوهه چې د کار يا کاري نقشو (پېټرن) فزيولوژيکي اغېزې او له کار څخه د را ټوکېدلي فشار لاملونه تر څېړنې لاندې نيسي، د ارګالوژي په نوم يادېږي.

**۲۳. ايتالوژي (ethology):** ايتالوژي د زولوژي يوه څانګه ده او هغې پوهې ته ويل کېږي چې د انسانانو او حيواناتو چلندونه څېړي.

**۲۴. ايډيالوژي (ideology):** هغه پوهه چې د نظرياتو طبيعت او منشاء تر څېړنې لاندې نيسي، د ايډيالوژي په نوم يادېږي. د ايډيالوژي يوه ډېره مشهوره معنا دا ده چې ايډيالوژي هغې عقيدې، فلسفې او د باورونو يا اصولو مجموعې ته ويل کېږي چې په يوه وګړي يا ډلې پورې اړه ولري.

**۲۵. انډالوژي (Indology):** هغه پوهه چې په اکاډميکو او ساينسي ميتودونو د هند نيمه وچې کلچر، ژبې او تاريخ تر څېړنې لاندې نيسي.

**۲۶. اکارالوژي (acarology):** اکارالوژي د زولوژي يوه څانګه ده چې کوچني خزنده ګان لکه سپږې، غواګې او داسې نور تر څېړنې لاندې نيسي.

**۲۷. اډنالوژي (adenology):** د فزيولوژي يوه برخه چې د خصيو درملنه څېړي.

**۲۸. ايونولوژي (aeonology):** هغه پوهه چې په عرفاني او تصوفي ميتودونو او روشونو کاينات څېړي.

**۲۹. ايټيالوژي (aetiology):** هغه پوهه چې علتونه او اسباب تر څېړنې لاندې نيسي او په طب کې د ناروغيو پلټنې او څېړنې ته ايټيالوژي ويل کېږي. همدا رنګه د يوې ناروغۍ د منشاء ساينسي توجيه او تشريح ته هم ايټالوژي ويل کېږي.

**۳۰. اګريالوژي (agriology):** هغه پوهه چې لرغوني، نالوستي يا وحشي کلچرونه او فرهنګونه څېړي.

**۳۱. انډرالوژي (andrology):** د طب هغه څانګه چې د نارينه وګړو ناروغۍ په تېره بيا هغه چې د نارينه وو تناسلي سيسټم اغېزمنوي تر څېړنې لاندې نيسي.

**۳۲. انيمالوژي (anemology):** هغه پوهه چې د بادونو حرکت تر څېړنې لاندې نيسي.

**۳۳. انجيالوژي (angiology):** د اناټومي هغه څانګه چې د وينې مجرا او لمفونه مطالعه کوي.

**۳۴. انتالوژي (anthology):** هغه پوهه چې ګلان څېړي. يوه بله مشهوره معنا يې دا هم ده چې انتالوژي د ادبي پنځونو لکه شعرونو او لنډو کيسو کلکسيون ته هم ويل کېږي، په تېره بيا هغه کلکسيون چې د بېلا بېلو ليکوالو پنځونې پکې را ټولې شوې وي.

**۳۵. ارکلوژي (archeology):** هغه پوهه چې لومړني اصول تر څېړنې لاندې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۶. ارکولوژي (archology):** هغه پوهه چې د څیزونو منشاء یا سرچینې څېړي. دغه راز، هغه علم ته هم ویل کېږي چې دولتونه او حکومتونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۷. اریټالوژي (aretology):** د اخلاقي فلسفې هغه څانګه چې فضیلت، د فضیلت فطرت او دا چې فضیلت څنګه ترلاسه کېږي، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۸. ارانیالوژي (araneology):** هغه پوهه چې غڼه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۹. استرالوژي (astrology):** هغه پوهه چې د ستورو د موقعیت له مخې د انساني چارو او طبیعي پدیدو په تړاو پېش بیني او وړاندوینه کوي.

**۴۰. ایتیالوژي (ethiology):** هغه پوهه چې الحاد تر څېړنې لاندې نیسي، د ایتیالوژي په نوم یادېږي.

**۴۱. اټومولوژي (atomology):** هغه پوهه چې اتومونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۲. آډیولوژي (audiology):** هغه پوهه چې غږیز او صوتي سیستمونه او د هغو اړوند اختلالات (ګډوډۍ) تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۳. بریوالوژي (brewology):** هغه پوهه چې د یو څه، په تېره د بیرو (اوربشو اوبه) دم کول (ایشول) تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۴. اډوکالوژي (educology):** د ښوونیزو پروسو په هکله هر اړخیزه پوهه چې په خپل ځان کې تیوریکي، فلسفي او انساني اړخونه رانغاړي.

**۴۵. ایمیټالوژي (emetology):** هغه پوهه چې د کانګو (قی کولو) لاملونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۶. ایروټولوژي (erotology):** هغه پوهه چې جنسي محرک (انګېزه) او چلند تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۷. ایتنالوژي (ethnology):** د بشر پوهنې هغه څانګه چې بېلا بېل بشري کلچرونه او فرهنګونه تر څېړنې او پرتلنې لاندې نیسي.

**۴۸. اېټومولوژي (etymology):** هغه پوهه چې د ژبو تاریخي پیدایښت او تکامل او دا چې په څه ډول یې د انفرادي لغتونو په بڼه پراختیا موندلې، تر څېړنې لاندې نیسي. یا په بل ډول، هغه پوهه چې د یوه لغت تاریخي سیر او منشاء مطالعه کوي.

**۴۹. اکریډالوژي (acridology):** هغه پوهه چې ملخان تر څېړنې لاندې نیسي.

**۵۰. اکټینالوژي (actinology):** هغه پوهه چې پر کیمیاوي موادو د رڼا اغېزې څېړي.

**۵۱. افریکالوژي (Africology):** هغه پوهه چې د نړۍ په کچه د افریقایي وګړو تاریخ او کلچر څېړي.

**۵۲. اګاتالوژي (agathology):** هغه پوهه یا تیوري چې ښه والی څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۳. اګنايالوژي** (agnoiology)**:** د هغو شيانو پوهې ته ويل کېږي چې د پوهېدو وړ نه وي.

**۵۴. اګناټالوژي** (agnotology)**:** هغه پوهه چې له کلتور څخه را ټوکېدلی جهالت يا ترديد مطالعه کوي؛ په تېره بيا د ناکره او غولوونکو ساينسي معلوماتو د تشهير او خپرولو، څېړنه اګناټالوژي بلل کېږي.

**۵۵. الکولوژي** (alcohology)**:** هغه پوهه چې پر ژونديو موجوداتو، خلکو او يا ټولنيزو محيطونو د الکولو اغېزې تر څېړنې لاندې نيسي.

**۵۶. امپيلالوژي** (ampelology)**:** هغه پوهه چې د انګورو کر او توليد تر څېړنې لاندې نيسي.

**۵۷. اېنجلالوژي** (angelology)**:** هغه پوهه چې پرښتې (ملايکې) څېړي.

**۵۸. ارټيالوژي** (**arteology**)**:** ارټيالوژي هغه فکري سيستم دی چې پر هغو اخلاقي پديدو راڅرخي چې پر فضيلتونو او ښېګڼو بنا وي.

**۵۹. اريسټالوژي** (**aristology**)**:** هغه پوهه چې اشپزي او د خوړو خوړل څېړي او په خپل ځان کې د خوړو تيارول، ترکيبول او وړاندې کول رانغاړي او همدا رنګه هغه طرز او روش هم تر څېړنې لاندې نيسي چې له مخې يې بايد دغه خوراکونه د يو وخت په ډوډۍ کې يو ځای او ترکيب کړای شي.

**۶۰. ارمينالوژي** (**aremnology**)**:** هغه پوهه چې د ارمني سيمې د وګړو کلتور او فرهنګ څېړي.

**۶۱. ارترالوژي** (**arthrology**)**:** د اناټومي هغه څانګه چې بندونه (مفصلونه) مطالعه کوي.

**۶۲. اسټاکولوژي** (**astacology**)**:** هغه پوهه چې چنګاښ (خرچنګ) څېړي.

**۶۳. اټکالوژي** (**autecology**)**:** هغه پوهه چې فردي ارګانيزمونه يا انواع تر څېړنې لاندې نيسي او د ايکولوژي له دوو لويو فرعي څانګو څخه يوه څانګه ده.

**۶۴. اکانتالوژي** (**acanthology**)**:** هغه پوهه چې ستون فقرات لرونکي موجودات تر څېړنې لاندې نيسي.

**۶۵. اکسنټالوژي** (**accentology**)**:** هغه پوهه چې په سيستماټيک ډول لغوي يا عبارتي خج څېړي.

**۶۶. اربنالوژي** (**urbanology**)**:** د ټولنپوهنې هغه څانګه چې په ښارونو او ښارګوټو کې د ژوند کولو پرابلمونه څېړي.

**۶۷. التړا مورفولوژي** (**ultramorphology**)**:** هغه پوهه چې د بيالوژيکو التړا جوړښتونو (مايکروسکوپي جوړښتونو) مورفولوژي څېړي.

**۶۸. اډيکټالوژي** (**addictology**)**:** هغه پوهه چې اعتياد يا روږدتيا څېړي.

**۶۹. اېرو بيالوژي** (**aerobiology**)**:** هغه پوهه چې د هوايي بيالوژيکو موادو او موجوداتو خورېدل څېړي، لکه د ګل ګرده، سپورونه، کوچني ارګانيزمونه او يا ويروسونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۰. اېرو ايکالوژي (aeroecology):** هغه پوهه چې د هوايي ارګانيزمونو ايکالوژي څېړي.

**۷۱. اګريکالوژي (agaricology):** هغه پوهه چې مرخېړي تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۲. اګروبيالوژي (agrobiology):** هغه پوهه چې بوټيز (نباتي) ژوند او تغذيه مطالعه کوي.

**۷۳. اګروايکالوژي (agroecology):** هغه پوهه چې کرهنيزه ايکالوژي څېړي.

**۷۴. اګراسټالوژي (agrostology):** هغه پوهه چې واښه څېړي.

**۷۵. اليتيالوژي (alethiology):** د منطق هغه څانګه چې سم او ناسم (غلط او صحيح) څېړي.

**۷۶. الرګالوژي (allergology):** هغه پوهه چې د الرجيو لاملونه او درملنه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۷. انارکالوژي (anarchology):** هغه پوهه چې انارشي څېړي.

**۷۸. انتيکالوژي (anthecology):** هغه پوهه چې د ګلانونو او القاح کوونکو ترمنځ اړيکې او ارتباطات څېړي.

**۷۹. افازيالوژي (aphasiology):** افازيالوژي هغه ژبنې پرابلمونه څېړي چې له ذهني اختلال څخه را پورته شوي وي.

**۸۰. اکواريالوژي (aquariology):** اکواريالوژي هغه اوبيز حيوانات او نباتات څېړي چې په يوه سيمه او يوه مهال کې د يوې ډلې په توګه ژوند کوي.

**۸۱. ارکنالوژي (arachnology):** هغه پوهه چې ارکنيډا څېړي.

**۸۲. ارکيالوژي (archeology):** هغه پوهه چې د توړنې او يا د پاتې شونو د تجزيې په مرسته لرغوني اثار مطالعه او تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۳. آرټيريالوژي (arteriology):** د انجيالوژي هغه څانګه چې د وينې شريانونه څېړي.

**۸۴. اسيريالوژي (Assyriology):** هغه پوهه چې د لرغوني اشور ژبه او کلچر تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۵. ايکرينالوژي (eccrinology):** هغه پوهه چې ترشحات او د خولو غدې تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۶. الکټرالوژي (electrology):** د فزيک هغه څانګه چې برېښنا او د هغې ځانګړنې څېړي.

**۸۷. اېراميکالوژي** (aeromycology): هغه پوهه چې په هوا کې د فنجي سپورونو خورېدل څېړي.

**۸۸. امفيـــبيالوژي (amphibiology):** هغه پوهه چې غبرګژواکه حيوانات تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۹. انتراکالوژي (anthrocology):** هغه پوهه چې د لرګيو د اناټومۍ له مخې هغه سکاره څېړي چې تر سوځېدو وروسته پاتې شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹۰. انتراپولوژي (anthropology):** هغه پوهه چې له علمي او ټولنيز اړخه انسانيت او انسان تر څېړنې لاندې نيسي او په اساسي ډول د ايتنوګرافۍ له ميتود څخه ګټه اخلي.

**۹۱. انټي تيولوژي (antitheology):** هغه عقيدوي سيستم ته ويل کېږي چې له تيولوژي (خدای پوهنې) سره په ټکر کې وي.

**۹۲. اپونيورالوژي (aponeurology):** هغه پوهه چې اپونيورسونه تر څېړنې لاندې نيسي. اپونيورسونه هغې غشا ته ويل کېږي چې د بدن عضلات له يو بل سره او يا د بدن له نورو برخو، لکه پوستکي يا هډوکي، سره نښلوي.

**۹۳. اربو ويرولوژي (arbovirology):** هغه پوهه چې اربو ويروسونه تر څېړنې لاندې نيسي. اربو ويروسونه هغه ويروسونه دي چې د ارتوپودا فايلم د حيواناتو له خوا انتقالېږي.

**۹۴. ارکانټالوژي (archontology):** هغه پوهه چې تاريخي دفترونه او هغه خلک څېړي چې دغه دفترونه يې په واک کې وو.

**۹۵. اسټروبيالوژي (astrobiology):** هغه پوهه چې، د ځمکې په ګډون، د کاينات په هره برخه کې ژوند مطالعه کوي.

**۹۶. اسټرو جيولوژي (astrogeology):** هغه پوهه چې د ستورو او د لمريز نظام د نورو اجسامو جوړښت او ترکيب تر څېړنې لاندې نيسي.

**۹۷. اسټرو زولوژي (astrozoology):** د زينالوژي هغه څانګه چې د ځمکې له فضا، محيط او اټوموسفير څخه وتلي حيوانات (مثلاً د يوې بلې سيارې حيوانات) مطالعه کوي.

**۹۸. اکسيډنټالوژي (accidentology):** هغه پوهه چې پېښې (حادثات)، په تېره بيا د نقليه وسايطو حادثات، تر څېړنې لاندې نيسي.

**۹۹. اکروپتالوژي (acropathology):** هغه پوهه چې د لويو غړو يا د بدن د بهرنيو برخو (لاسونه، پښې او ...) ناروغۍ او رنځونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۰۰. اکټينو بيالوژي (actinobiology):** هغه پوهه چې پر ژونديو موجوداتو د وړانګو اغېزې څېړي.

**۱۰۱. اېروليتالوژي (aerolithology):** هغه پوهه چې شهاب ثاقب (اسماني کاڼي) څېړي.

**۱۰۲. امريکنالوژي (Americanology):** هغه پوهه چې امريکايي وګړي څېړي.

**۱۰۳. انترو زولوژي (anthrozoology):** هغه پوهه چې د انسانانو او ژوو اړيکې او خپلمنځي تعامل تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۰۴. اسټروتيولوژي (astrotheology):** هغه تيولوژي (خدای پوهنه) چې د سماوي (علوي) مخلوقاتو پر مشاهده او څېړنه بنا وي.

**۱۰۵. اډيکشنالوژي (addictionology):** هغه پوهه چې روږدتيا (اعتياد) او د هغې درملنه څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۰۶. اېروپلينالوژي (aeroplynology):** هغه پوهه چې په فضا کې سپورونه او (د ګلانو يا بوټو) ګردې څېړي.

**۱۰۷. اګرومورفولوژي (agromorphology):** هغه پوهه چې د زراعتي بوټو مورفولوژي څېړي.

**۱۰۸. اګروټيکنالوژي (agrotechnology):** هغه پوهه چې د کرهنې (زراعت) لپاره د عصري ټيکنالوژۍ کارونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۰۹. امپليټوډ يالوژي (amplitudeology):** د کوانټم فزيک هغه برخه چې د کوانټمي ذراتو د خپرېدو امپليټوډ څېړي.

**۱۱۰. انيستيزيالوژي (anesthesiology):** هغه پوهه چې د بې هوښۍ درمل تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۱۲. ارکيوبيالوژي (archeobiology):** هغه پوهه چې د ارکيالوژي (لرغونپوهنې) بيالوژيک اړخونه څېړي.

**۱۱۳. ارکيوزولوژي (archeozoology):** هغه پوهه چې د زمان په اوښتو د انسانانو او حيواناتو اړيکې څېړي.

**۱۱۴. ارتروپوډالوژي (arthropodology):** هغه پوهه چې ارتروپوډونه (د ارپودا فايلم ژوي) څېړي.

**۱۱۵. استېروليتالوژي (astrolithology):** هغه پوهه چې شهاب سماوي څېړي.

**۱۱۶. اټوموسفيرالوژي (atmospherology):** هغه پوهه چې د يوه ستوري (سيارې) اټوموسفير څېړي.

**۱۱۷. اګروميټرياالوژي (agrometeorology):** د ميټرياالوژي هغه څانګه چې پر کرهنه د موسم او اقليم اغېزې څېړي.

**۱۱۸. انتروپوبيالوژي (anthropobiology):** هغه پوهه چې له تکاملي او ارتقايي ليدلوري، د انسانانو، د انسان لرغوني انسان وزمه نيکونو او اړوند غيرانساني لومړنيو موجوداتو بيالوژيک او چلندي اړخونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۱۹. انټيميتوډولوژي (antimethodology):** هغه پوهه چې له ميتوډولوژي سره ټکر لري او يا شته ميتوډولوژي سرچپه کوي او يا هم د هغې په خلاف اقدام کوي.

**۱۲۰. استېرسايزمولوژي (asterseismology):** هغه پوهه چې د ستورو سايزمولوژي څېړي. وګورئ: سايزمولوژي.

**۱۲۱. استېروسايزمولوژي (astroseismology):** هغه پوهه چې په ستورو کې د فشاري څپو ډېرېدل مطالعه کوي.

**۱۲۲. استېروټکنالوژي (astrotechnology):** د ستورپوهنې اړوند ټکنالوژۍ د استېروټکنالوژي په نوم يادېږي. د دې ټکنالوژۍ کارونه، تطبيق او زده کړه د استېروټکنالوژي تر عنوان لاندې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۲۳. استوفزيالوژي (aesthophysiology):** هغه پوهه چې د اعصابو د فعاليتونو په برخه کې حس تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۲۴. اناټوموپتالوژي (anatomopathology):** د پتالوژي اناټوميکه څېړنه د اناټوموپتالوژي په نوم يادېږي.

**۱۲۵. ارکيوهايډرولوژي (archeohydrology):** هغه پوهه چې لرغونې هايډرولوژي څېړي. وګورئ: هايډرولوژي.

**۱۲۶. استېرو سايزمو لوژي (asteroseismology):** هغه پوهه چې د ستورو نوسان (اهتزاز) مطالعه کوي.

**۱۲۷. استرو ارکيالوژي (astroarcheology):** هغه پوهه چې د ارکيالوژيکو ميتودونو په اساس ستوري څېړي؛ د ستورپوهنې ارکيالوژي.

**۱۲۸. استرو ميټريالوژي (astrometeorology):** هغه پوهه چې د هوا حالاتو د وړاندوينې لپاره د استرولوژي کارونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۲۹. اګري بايو ټکنالوژي (agribiotechnology):** هغه پوهه چې د کرهنې لپاره د بايوټکنالوژي کارونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۳۰. انتروپو سوشيالوژي (anthroposociology):** هغه پوهه چې يو بشري نسل له بشرپوهنيزې او ټولنپوهنيزې زاويې څېړي تر څو پر نورو خلکو د يوې ځانګړې ډلې لوړاوی ثابت کړای شي.

**۱۳۱. ارکيو ملاکالوژي (archeomalacology):** هغه پوهه چې په لرغونو ځايونو (اثارو) کې د نرم تنانو پاتې شونې څېړي.

**ارکيو سايزمولوژي (archeoseismology):** د ارکيالوژي هغه څانګه چې لرغونې زلزلې څېړي.

**۱۳۲. انتروپو مورفولوژي (anthropomorphology):** هغه پوهه چې خدای ته د انساني صفاتو منسوبول څېړي. يا دې عمل ته هم انتروپو مورفولوژي ويل کېږي.

**۱۳۳. انتروپو سوماټولوژي (anthroposomatology):** د انساني بدن هر اړخيزه يا ټوليزه پوهه د انتروپوسومټالوژي په نوم يادېږي چې په ځان کې اناټومي، فزيولوژي، پتالوژي او داسې نورې څانګې رانغاړي.

**۱۳۴. ايډافالوژي (edaphology):** هغه پوهه چې د ځمکې او بوټو ترمنځ اړيکې او کرنيز فعاليتونه څېړي.

**۱۳۵. ايجيپټالوژي (Egyptology):** هغه پوهه چې لرغونی مصر څېړي.

**۱۳۶. امبريالوژي (embryology):** هغه پوهه چې جنين څېړي.

**۱۳۷. امينالوژي (emmenology):** هغه پوهه چې د ښځينه انسانانو او حيواناتو مياشتنۍ ناروغي (حيض) څېړي.

**۱۳۸. انټرالوژي (enterology):** هغه پوهه چې کولمې څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۳۹. انټومولوژي (entomology):** هغه پوهه چې حشرات څېړي.

**۱۴۰. انزایمولوژي (enzymology):** د ساینس هغه څانګه چې انزایمونه مطالعه کوي.

**۱۴۱. ایسکپالوژي (escapology):** هغه پوهه یا هنر چې له یوه بندښت، لکه پړي یا زولنو، څخه تېښته یا ځان ازادول څېړي.

**۱۴۲. اسکیمالوژي (Eskimology):** هغه پوهه چې د اسکیمو سیمې خلک او ژبه څېړي.

**۱۴۳. ایونټالوژي (eventology):** د احصایې هغه څانګه چې ناڅاپي او مبهمې پېښې څېړي.

**۱۴۴. اکسوبیالوژي (exobiology):** د بیالوژۍ هغه څانګه چې د یوې بلې ځمکې ژوندي موجودات څېړي.

**۱۴۵. انډمیالوژي (endemiology):** هغه پوهه چې بومي حالات څېړي.

**۱۴۶. انټروپالوژي (entropology):** هغه پوهه چې داسې انساني کړنې څېړي چې په یوه ټولنیز سیسټم کې لویو بې نظمیو او اختلالونو ته لاره هواروي.

**۱۴۷. اسکټالوژي (eschatology):** هغه پوهه چې اخري وختونه – د نړۍ پای یا قیامت – تر څېړنې لاندې نیسي او په تېره په اسلامي او عیسوي تیولوژۍ کې د مسیح ع دوهم ځلي راتګ، د محشر ورځ او داسې نور اړخونه څېړي. د مرګ څېړنې ته هم اسکټالوژي ویل کېږي.

**۱۴۸. اټروسکالوژي (Etruscology):** هغه پوهه چې د اټرویا (په اټالوي ټاپو وزمه کې یو لرغونی هېواد) کلتور او تمدن څېړي.

**۱۴۹. اکلیسالوژي (ecclesiology):** د تیولوژۍ هغه څانګه چې د یوې کلیسا عقاید، رولونه او داسې نور څېړي. یا: هغه پوهه چې د کلیساوو ودانول او سینګارول څېړي.

**۱۵۰. ایکوپټالوژي (eccopathology):** هغه پوهه چې پر ناروغیو د چاپېریال (محیط) اغېز څېړي.

**۱۵۱. ایموشنالوژي (emotionlogy):** هغه پوهه چې احساسات/جذبات څېړي. یا: د خپلو احساساتو په اړه د یو ډله خلکو د تفکر او تکلم طرز ته هم ویل کېږي.

**۱۵۲. انیګمټالوژي (enigmatology):** هغه پوهه چې معماوې څېړي.

**۱۵۳. اپډیمیالوژي (epidemiology):** هغه پوهه چې د ناروغیو، ویروسونو، افکارو او داسې نورو خپرېدل او کنټرول څېړي.

**۱۵۴. اپیلپټالوژي (epileptology):** د عصبپوهنې هغه څانګه چې د مرګي ناروغۍ څېړي.

**۱۵۵. اپیستمالوژي (epistemology):** د فلسفې هغه څانګه چې پوهه څېړي. یا: د پوهنې تیوري د اپیستمالوژي په نوم یادېږي او دا پوښتنې ځوابوي چې: پوهه څه شی ده؟ پوهه څنګه ترلاسه کېږي؟ خلک پر څه شي پوهېږي؟ پخپله پوهه څنګه پوه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۵۶. ایتنو بیالوژي (ethnobiology):** هغه پوهه چې د نباتاتو، حیواناتو او انساني کلچرونو ترمنځ اړیکې څېړي.

**۱۵۷. ایتنو زولوژي (ethnozoology):** هغه پوهه چې د تېرو او اوسنیو انساني کلچرونو او حیواناتو ترمنځ خپلمنځي اړیکې څېړي.

**۱۵۸. اکساکرینالوژي (exocrinology):** هغه پوهه چې خارجي ترشحات څېړي.

**۱۵۹. اکسومونولوژي (exomoonology):** هغه پوهه چې اکسومونونه څېړي. اکسومون هغې سپوږمۍ ته ویل کېږي چې زموږ له لمریز نظام څخه بهر وي.

**۱۶۰. ایکو ایمونولوژي (ecoimmunology):** د ایمونولوژي، ایکولوژیک تطبیق یا کاروني ته ایکوایمونولوژي ویل کېږي. وګورئ: ایمونولوژي.

**۱۶۱. ایکومورفولوژي (ecomorphology):** هغه پوهه چې د ارګانیزمونو پر مورفولوژي د چاپېریال اغېزې څېړي.

**۱۶۲. ایکوموزیکالوژي (ecomusicology):** هغه پوهه چې په ایکولوژي او طبیعي چاپېریال پورې اړوند طبیعت، کلچر او موسیقي تر څېړنې لاندې نیسي.

**۱۶۳. ایکونامیکالوژي (economicology):** هغه پوهه چې د اقتصاد او ایکولوژي خپلمنځي تړاو څېړي.

**۱۶۴. ایکوفزیالوژي (ecophysiology):** هغه پوهه چې د یوه ارګانیزم د فزیولوژۍ او د هغه د چاپېریال ترمنځ اړیکې څېړي.

**۱۶۵. ایکوسایکالوژي (ecopsychology):** د ارواپوهنې هغه بنه چې د ټولنې پر ځای له طبیعي نړۍ سره مخلوط شوې وي یا پر طبیعي نړۍ بحث کوي.

**۱۶۶. ایکوټکنالوژي (ecotechnology):** هغې ټکنالوژۍ ته ویل کېږي چې ایکوسیسټم ته ګټوره وي او زیان نه ورته رسوي.

**۱۶۷. انسیفالولوژي (encephalology):** هغه پوهه چې مغز، د مغزو جوړښت او دندې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۱۶۸. انډوکراینولوژي (endocrinology):** هغه پوهه چې د انساني جسم د اندوکراین غدې، د دغو غدو له خوا تولید شوي هورمونونه او د هغو اړوند اختلالونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۱۶۹. اسپرانټالوژي (Esperantology):** هغه پوهه چې اسپرانټو ژبه څېړي. اسپرانټو هغه نړیواله کمکي (مرستندویه) ژبه ده چې اېل. اېل. زامنهوف ډیزاین کړې او له هند-اروپایي ژبو لکه انګلش، فرانسوي، جرمني، اټالوي، اسپانوي، روسي څخه یې الهام اخیستی او خپل جلا ګرامري ترکیبات، مشتقات او داسې نور اړخونه لري.

**۱۷۰. ایتنوپیډالوژي (ethnopedology):** هغه پوهه چې د خاوري بومي (سیمه ییزه) پوهه څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۷۱. اتیوپتالوژي (etiopathology):** هغه پوهه چې د یوې پتالوژۍ لامل څېړي یا تشخیصوي.

**۱۷۲. اکسومورفولوژي (exomorphology):** هغه پوهه چې خارجي مورفولوژي څېړي.

**۱۷۳. الکټروبیالوژي (electrobiology):** هغه پوهه چې د بیالوژیکو ارګانیزمونو په واسطه د برېښنا تولید او کارونه څېړي.

**۱۷۴. اکسوپلانټالوژي (exoplanetology):** هغه پوهه چې هغه سیارې څېړي چې زموږ له لمریز نظام څخه دباندې شتون لري.

**۱۷۵. ایکو اپیډمیالوژي (ecoepidemiology):** هغه پوهه چې پر روغتیا ایکولوژیکې اغېزې څېړي.

**۱۷۶. الکټروهیالوژي (electroheology):** هغه پوهه چې د مادې پر رهالوژیکو خواصو د برېښنایي ساحو اغېزې څېړي. وګورئ: رهالوژي.

**۱۷۷. امبریوپتالوژي (embryopathology):** هغه پوهه چې د جنین ناروغۍ څېړي.

**۱۷۸. ایتنو انټومولوژي (enthnoentomology):** د انټومولوژي (حشره پوهنې) هغه څانګه چې د خلکو او حشراتو ترمنځ تعامل څېړي.

**۱۷۹. ایتنو موزیکالوژي (ethnomusicology):** هغه پوهه چې کلچر او موسیقي څېړي. یا: هغه پوهه چې موسیقي او له کلچر سره د موسیقۍ تړاو څېړي.

**۱۸۰. ایتنو سایکالوژي (ethnopsychology):** هغه پوهه چې داسې ارواپوهنیز مفاهیم څېړي چې د بېلا بېلو پرګنو په منځ کې شتون لري.

**۱۸۱. اکسانتیماټولوژي (exanthematology):** هغه پوهه چې اکسانتم (یو ډول خارښ چې معمولاً په ماشومانو کې لیدل کېږي) څېړي.

**۱۸۲. ایکو جیو مورفولوژي (ecogeomorphology):** هغه پوهه چې د ایکولوژي او جیومورفولوژي ترمنځ اړیکې څېړي.

**۱۸۳. ایتنوپرایمټالوژي (ethnoprimatology):** هغه پوهه چې د انسانانو او نورو لومړنیو موجوداتو ترمنځ اړیکې څېړي.

**۱۸۴. الکټرو کارډیالوژي (electrocardiology):** هغه پوهه چې د زړه برقي فعالیت څېړي.

**۱۸۵. الکټروفزیالوژي (electrophysiology):** د فزیولوژي هغه څانګه چې د ارګانیزمونو برقي فعالیت څېړي.

**۱۸۶. الکټروټکنالوژي (electrotechnology):** د برقي ټکنالوژي او انجینرۍ ترکیب ته الکټرو ټکنالوژي ویل کېږي.

**۱۸۷. ایتنو فارماکولوژي (ethnopharmacology):** هغه پوهه چې توکمیزې ډلې، د هغو روغتیا او دا چې د هغوی روغتیا د دوی له فزیکي عادتونو او درمل جوړونې او کارونې سره څنګه تړاو خوري، تر څېړنې لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۸۹. اياټرالوژي (iatrology):** د طب علم ته اياټرالوژي ويل کېږي.

**۱۹۰. ايماګالوژي (imagology):** هغه پوهه چې په ادب او داسې نورو ډګرونو کې کلتوري کلېشې (سيټروټاپيونه) څېړي.

**۱۹۱. آيرينالوژي (irenology):** هغه پوهه چې سوله څېړي؛ سوله پوهنه.

**۱۹۲. آيريسالوژي (irisology):** هغه پوهه چې د زنبق بوټي کر څېړي.

**۱۹۳. ايامټالوژي (iamatology):** هغه پوهه چې درملنه څېړي.

**۱۹۴. ايمونولوژي (immunology):** د طب هغه څانګه چې د بدن دفاعي سيستم څېړي.

**۱۹۵. اسلامولوژي (Islamology):** هغه پوهه چې اسلام تر څېړنې لاندې نيسي.

**۱۹۶. اکتيالوژي (ichthyology):** د زولوژي هغه څانګه چې ماهيان (کبان) څېړي.

**۱۹۷. ايډيوبيالوژي (idiobiology):** هغه پوهه چې بيالوژيک فرد څېړي.

**۱۹۸. انسکټالوژي (insectology):** هغه پوهه چې حشرات څېړي.

**۱۹۹. امپلنټالوژي (implantology):** هغه پوهه چې د غاښونو تعويض (بدلول) څېړي.

**۲۰۰. انفکټيالوژي (infectiology):** هغه پوهه چې د ناروغيو سرايت (انفکشن) څېړي.

**۲۰۱. ايمونو ايکالوژي (immunoecology):** هغه پوهه چې د ايمونولوژي او ايکالوژي تعامل څېړي.

**۲۰۲. انفوډيميالوژي (infodemiology):** د اپيډيميالوژي هغه څانګه چې په هغه کې د انټرنټ له لارې ډاټا (خام معلومات) ترلاسه کېږي.

**۲۰۳. انسټرکټالوژي (instructology):** د ښوونې هغه څانګه چې په هغه کې لارښوونه د علم او پوهې د لېږد لپاره کارول کېږي.

**۲۰۴. ايمونوسرالوژي (immunoserology):** د سرالوژي هغه څانګه چې دفاعي غبرګون مطالعه کوي. وګورئ: سرالوژي.

**۲۰۵. ايمونو ويرولوژي (immunovirology):** هغه پوهه چې د ويروسونو او دفاعي سيستم تر منځ تعامل څېړي.

**۲۰۶. انټرا کرينولوژي (intracrinology):** هغه پوهه چې انټراکراين هورمونونه او د هغو اړوند رنځونه څېړي.

**۲۰۷. اکتيو ټاکسيکالوژي (ichthiotoxicology):** هغه پوهه چې هغه زهر څېړي چې په کبانو کې موندل کېږي.

**۲۰۸. ايمونو واکسينالوژي (immunovaccinology):** د واکسين موندنې په ډګر کې له ايمونولوژي څخه ګټه اخيستنه د ايمونو واکسينالوژي په نوم يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۰۸. انفارمېشن ټکنالوژي (information technology):** هغه پوهه چې کمپیوټري سیستمونه او کاریالونه تر څېړنې لاندې نیسي؛ معلوماتي ټکنالوژي.

یا: د کمپیوټري سیستمونو او کاریالونو د جوړولو چارې ته هم ویل کېږي.

یا: د یوه سازمان د کمپیوټرپوهنې څانګه د معلوماتي ټکنالوژي په نوم یادېږي.

**۲۰۹. اوینالوژي (oenology):** هغه پوهه چې شراب او شراب جوړونه څېړي.

**۲۱۰. اویکالوژي (oikology):** هغه پوهه چې کورونه (ودانۍ) او کور (کورنۍ، غړي)، په تېره د هغو روغتیایي شرایط تر څېړنې لاندې نیسي.

**۲۱۱. اونکالوژي (oncology):** د طب هغه څانګه چې تومورونه، د هغو جوړېدل، تشخیص، درملنه او مخنیوی څېړي.

**۲۱۲. انټالوژي (ontology):** د میټافزیک هغه څانګه چې د وجود یا هغو شیانو چې موجود وي، طبیعت او اساسي ځانګړنې څېړي؛ وجودپوهه.

**۲۱۳. اپټالوژي (optology):** هغه پوهه چې دید (نظر) څېړي؛ دید پوهنه.

**۲۱۴. آسمالوژي (osmology):** هغه پوهه چې بویونه څېړي.

**۲۱۵. اکلالوژي (ochlology):** د خلکو د ګڼه ګونې (رش کش) اراوپوهنه د اکلالوژي په نوم یادېږي.

**۲۱۶. افیالوژي (ophiology):** هغه پوهه چې ماران څېړي. افیالوژي د هرپټالوژي یوه څانګه ده. وګورئ: هرپټالوژي.

**۲۱۷. ارتالوژي (orthology):** صحیح تکلم او یا د لغتونو سمه کارونه د ارتالوژي په نوم یادېږي.

**۲۱۸. اسټیالوژي (osteology):** هغه پوهه چې د هډوکو پتالوژي او مورفولوژي څېړي.

**۲۱۹. اوشنالوژي (oceanology):** هغه پوهه چې بحرونه څېړي.

**۲۲۰. اډنټولوژي (odontology):** هغه پوهه چې د غاښونو جوړښت او وده څېړي. یا: د غاښپوهنې هغه څانګه چې د غاښونو ګډوډۍ څېړي.

**۲۲۱. اونیرالوژي (oneirology):** هغه پوهه چې خوبونه او د هغو تعبیر څېړي.

**۲۲۲. ارګنالوژي (organology):** هغه پوهه چې د نباتاتو او ژوو غړي څېړي. یا: د تاریخ، کلتور او پنځېدو له مخې د موسیقیي آلاتو څېړنه د ارګنالوژي په نوم یادېږي.

**۲۲۳. اوریزمالوژي (orismology):** هغه پوهه چې تخنیکي اصطلاحات څېړي؛ ټرمینالوژي.

**۲۲۴. اوریکټالوژي (oryctology):** هغه پوهه چې له ځمکې څخه را کیندل شوي شیان او همدا رنګه منرالونه او فاسیلونه څېړي.

**۲۲۵. اولفکټالوژي (olfactology):** د بوی کیمیاوي څېړنه اولفکټالوژي بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۲۶. اونکوبیالوژي (oncobiology):** د سرطان بیالوژي ته انکوبیالوژي ویل کېږي.

**۲۲۷. اونوماټولوژي (onomatology):** هغه پوهه چې د نومونو منشاء څېړي.

**۲۲۸. ارکیډالوژي (orchidology):** هغه پوهه چې بڼونه (د ګلونو باغونه) څېړي.

**۲۲۹. اورنیتالوژي (ornithology):** د زولوژي هغه څانګه چې په ساینسي ډول مرغان څېړي.

**۲۳۰. اونوماسیولوژي (onomasiology):** د لکسیکالوژي هغه څانګه چې نومونه او مفاهیم څېړي.

**۲۳۱. اوپیلیونالوژي (opilionology):** هغه پوهه چې درمندګر څېړي.

**۲۳۲. اوټوپتالوژي (otopathology):** هغه پوهه چې د غوږونو ناروغۍ څېړي.

**۲۳۳. اوټو رینولوژي (otorhinology):** هغه پوهه چې غوږ او پوزه (او د هغو ناروغۍ) څېړي.

**۲۳۴. افتلمالوژي (ophthalmology):** هغه پوهه چې د سترګو اناټومي، دندې، ناروغۍ او درملنه څېړي.

**۲۳۵. اوسفریسالوژي (osphresiology):** هغه پوهه چې بویونه څېړي.

**۲۳۶. اپټوفزیالوژي (optophysiology):** هغه پوهه چې د رڼا فزیالوژي څېړي.

**۲۳۷. ارتوپټرالوژي (orthopterology):** هغه پوهه چې ارتوپټرا څېړي.

**۲۳۸. اسټیوپتالوژي (osteopathology):** هغه پوهه چې د هډوکو پتالوژي څېړي.

**۲۳۹. اوټولېرنګالوژي (otolaryngology):** هغه پوهه چې د غوږ، پوزې او ستوني ناروغۍ څېړي.

**۲۴۰. اونیکوپتالوژي (onychopathology):** هغه پوهه چې د نکانو ناروغۍ څېړي.

**۲۴۱. اورنیتیکنالوژي (ornithichnology):** د علم هغه څانګه چې د مرغانو د پښو فوسیلي چاپ/نښه څېړي.

**۲۴۲. اسټیو ایمونولوژي (osteoimmunology):** هغه پوهه چې د اسکلېټ او دفاعي سیسټم ترمنځ اړیکي څېړي.

**۲۴۳. اسټیوارکیالوژي (osteoarchaeology):** هغه پوهه چې په لرغونو اثارو کې انساني پاتې شوني څېړي.

**۲۴۴. افتلموپتالوژي (ophthalmopathology):** هغه پوهه چې د سترګو ناروغۍ څېړي.

**۲۴۵. اوټو لېرنګو هینګالوژي (otolaryngohingology):** هغه پوهه چې د غوږ، پوزې او ستوني ناروغۍ څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ب

**۲۴۶. بیالوژي (biology):** هغه پوهه چې ژوند او ژوندۍ ماده څېړي.

**۲۴۷. بارولوژي (barology):** هغه پوهه چې وزن یا د ثقل مرکز څېړي.

**۲۴۸. باټالوژي (batology):** هغه پوهه چې په ساینسي میتودونو د روبس ګل تر څېړنې لاندې نیسي.

**۲۴۹. باینالوژي (binology):** باینالوژي هغې بوختیا یا فعالیت ته ویل کېږي چې د نامتو څېرو او عامو خلکو په هکله د معلوماتو د لاسته راوړلو په خاطر د هغو خځلنۍ (کثافت دانۍ) توشپل کېږي او بیا لاسته راغلي معلومات په کوچنیو ورځپاڼو کې خپرېږي. د یادونې وړ ده چې دغه فعالیت له اخلاقي پلوه تر پوښتنې لاندې دی.

**۲۵۰. بویالوژي (boyology):** د یوه نارینه زلمي (هلک) څېړنې یا ساینسي ازمایښت ته بویالوژي ویل کېږي.

**۲۵۱. برایالوژي (bryology):** د برایوفایټس څېړنې ته برایالوژي ویل کېږي. برایوفایټس هغو بوټو ته ویل کېږي چې رګونه یا مجرا نه لري، مثلاً د کاڼي ګل یا موسه.

**۲۵۲. بوګالوژي (bugology):** هغه پوهه چې حشرات څېړي، د بوګالوژي په نوم یادېږي.

**۲۵۳. بورسالوژي (bursalogy):** هغه پوهه چې بورس تر څېړنې لاندې نیسي. بورس یوه ښویه ماده ده چې په هغه ځای کې شتون لري چې د یوې عضلې او هډوکي سولېدل پېښېږي او د دواړو حرکتي سطحو ترمنځ د اصطکاک کچه کموي.

**۲۵۴. بالنیولوژي (balneology):** هغه پوهه چې حمامونه او لمبېدل (غسل کول) تر څېړنې لاندې نیسي، په ځانګړې ډول هغه غسل چې د درملنې په خاطر ترسره کېږي.

**۲۵۵. باریالوژي (barriology):** هغه پوهه چې حجروي خنډونه (بندښتونه) څېړي.

**۲۵۶. باتمالوژي (bathmology):** هغه پوهه چې په یوه ډسکورس کې د تعامل درجې او یا د ژبنې خود ارجاعي پوړونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۲۵۷. بیبلیالوژي (bibliology):** هغه پوهه چې د کتابونو او د چاپ د فن تاریخ تر څېړنې لاندې نیسي. بل تعریف یې په دې ډول دی: هغه پوهه چې بایبلي ادبیات (بایبل او د عیسویت نور کتابونه) تر څېړنې لاندې نیسي.

**۲۵۸. بایو ایکالوژي (bioecology):** هغه پوهه چې د ایکالوژي بیالوژیک اړخونه څېړي.

**۲۵۹. بوټانولوژي (botanology):** هغه پوهه چې بوټي (نباتات) څېړي. د بوټاني په نوم هم یادېږي.

**۲۶۰. براکیلوژي (brachylogy):** هغه پوهه چې د لغتونو د حذف (غورځن) بېلا بېل حالتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېړي چې په دې کې د هغو لغتونو حذف او له منځه هم وړل هم راځي چې په يوه عبارت کې د پوهېدو وړ وي، لکه په انګلش ژبه کې «good morning» څخه د good کلمې غورځول.

**۲۶۱. برانټالوژي (brontology):** هغه پوهه چې تندر څېړي.

**۲۶۲. بودالوژي (Buddhology):** هغه پوهه چې بودا او يا بوديزم تر څېړنې لاندې نيسي.

**۲۶۳. بفيالوژي (Buffyology):** هغه پوهه چې ((Buffy the Vampire Slayer)) ټلويزوني سريال په علمي او اکاډميکو ميتودونو تر څېړنې لاندې نيسي.

**۲۶۴. بيريسټالوژي (berestology):** هغه پوهه چې د ونې په پوټکي ليکل شوې خطي نسخې مطالعه کوي.

**۲۶۵. بايو رهالوژي (biorheology):** هغه پوهه چې د بيالوژيکو موادو جريان (بهېدا) او ويجاړتيا څېړي.

**۲۶۶. بايو ټيپالوژي (biotypology):** بايو ټيپالوژي هغه حيوانات څېړي چې مشابه جينوټايپ ولري.

**۲۶۷. بروماټولوژي (bromatology):** هغه پوهه چې خواړه څېړي.

**۲۶۸. بټنالوژي (buttonlogy):** هغه پوهه چې د جامو تنۍ (بټنونه) څېړي.

**۲۶۹. بکټيريالوژي (bacteriology):** هغه پوهه چې په عمومي ډول بکټيريا او په تېره د رنځونو او کرهنې په باب يې تر څېړنې لاندې نيسي.

**۲۷۰. بارامينالوژي (baraminology):** هغه پوهه چې د بايبلي عقيدې له مخې د ارګانيزمونو ډلبندي څېړي او يا د همدې عقيدې پر اساس د موجوداتو ډلبندي ترسره کوي. په لنډ ډول ويلای شو چې د مخلوقاتو مطالعې ته بارامينالوژي ويل کېږي.

**۲۷۱. بايوکونولوژي (biocoenology):** هغه پوهه چې بايکونوس څېړي. بايکونوس د هغو ارګانيزمونو ټولنې ته ويل کېږي چې يو طبيعي ايکالوژيک واحد جوړوي.

**۲۷۲. بايوپټالوژي (biopathology):** د بدن د غړو، تومورونو او ورته بيالوژيکو جوړښتونو پټالوژي (د ناروغيو پوهه/رنځپوهنه) د بايوپټالوژي په نوم يادېږي.

**۲۷۳. بايوسوشيالوژي (biosociology):** وګورئ: سوشوبيالوژي.

**۲۷۴. براکټالوژي (bracketology):** هغه پوهه چې د لوبو د پايلې وړاندوينه او تجزيه څېړي او يا د لوبو د پايلې په هکله وړاندوينه کوي.

**۲۷۵. بايوکرونولوژي (biochronology):** هغه پوهه چې د تيرو د فاسيلونو د شننې له لارې د هغو نېټې ټاکي.

**۲۷۶. بايو فزيالوژي(biophysiology) :** بيالوژيکې فزيالوژۍ ته بايوفزيالوژي ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۷۷. بایوسایکالوژي (biopsychology):** بیالوژیکي ارواپوهني ته بایوسکایلوژي ویل کېږي.

**۲۷۸. بایوسپیلیالوژي (biospeleology):** د هغو ارګانیزمونو بیالوژي چې په سمڅو کې ژوند کوي.

**۲۷۹. بایوټکنالوژي (biotechnology):** په صنعتي، زراعتي، طبي او نورو ټکنالوژیکو مواردو کې د ژوندیو موجوداتو (په تېره مایکرو موجوداتو) کارونه د بایوټکنالوژي په نوم یادېږي.

دغه راز، د ژوندیو موجوداتو د علومو د څېړنې او مطالعې لپاره د انجینرۍ او ټکنالوژۍ اصول او میتودونو پلي کول د بایوټکنالوژي یوه برخه ده.

د تعریف په توګه ویلای شو چې بایوټکنالوژي د پورته یادو ټولو اړخونو څېړنې او شننې ته ویل کېږي.

**۲۸۰. بایوارکیالوژي (bioarcheology):** وګورئ: استې ارکیالوژي.

**۲۸۱. بایوکلیمټالوژي (bioclimatology):** د ساینس هغه پوهنګښتیایي څانګه چې د موسمونو د ترتیب له مخې د بایوسفیر او ځکمني اټوموسفیر ترمنځ اړیکې څېړي.

**۲۸۲. بایومیټریالوژي (biometeorology):** هغه پوهه چې د اتوموسفیري شرایطو (موسم) او ژوندیو موجوداتو ترمنځ اړیکې څېړي.

**۲۸۳. بایو انتروپولوژي (bioanthropology):** بیالوژیکي انتروپولوژۍ ته بایوانتروپولوژي ویل کېږي.

**۲۸۴. بایو جیو مورفولوژي (biogeomorphology):** هغه پوهه چې د ځمکې او ارګانیزمونو تر منځ تعامل تر څېړنې لاندې نیسي.

**۲۸۵. بایو نانو ټکنالوژي (bionanotechnology):** هغه پوهه چې د نانوټکنالوژۍ لپاره د بیالوژي کارونه او تطبیق څېړي.

**۲۸۶. بایو مایکرو میټریالوژي (biomicrometeorology):** هغه پوهه چې د کوچنۍ کچې موسمي سیستمونه څېړي چې تر شا یې یو بیالوژیک لامل لاس ولري. د مثال په ډول هغه سیستم چې د ونو د زیاتې پراختیا له کبله رامنځته کېږي.

## پ

**۲۸۷. پیډالوژي (pedology):** د خاورې پوهنې هغه څانګه چې خاوره د طبیعي سیستمونو د یوه جز په توګه څېړي او یا د خاورې پیدایښت او ډلبندي مطالعه کوي.

**۲۸۹. پینالوژي (penology):** هغه پوهه چې د سزا او همدا رنګه د جرم د مخنیوي لپاره منل شوې او پلان شوې پروسې څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۹۰. پومولوژي (pomology):** هغه پوهه چې مېوه او د مېوې کر څېړي.

**۲۹۱. پوسالوژي (posology):** هغه پوهه چې د درملو کارونه / ډوسونه او په تېره د دقیقو نسخو تشخیص څېړي.

**۲۹۲. پیرالوژي (pyrology):** هغه پوهه چې د تودوخې یا لمبې اغېزې، چې ډېر کله په چاودېدونکو موادو او کیمیاوي مرکباتو پورې اړه لري، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۲۹۳. پانټالوژي (pantology):** د بشري علومو ټولو څانګو ته یوه سیستماټیکه کتنه یا د نړیوالو معلوماتو یوه پنځونه د پانټالوژي په نوم یادېږي.

**۲۹۴. پالیالوژي (paleology):** هغه پوهه چې لرغوني وختونه یا لرغوني شیان څېړي.

**۲۹۵. پتالوژي (pathology):** د طب هغه څانګه چې د ناروغي طبیعت، د هغې علتونه، پروسې، وده او پایلې څېړي.

**۲۹۶. پاټرالوژي (patrology):** هغه پوهه چې د کلیسا د پاپانو ژوند او کارونه څېړي.

**۲۹۷. پیسټالوژي (pestology):** هغه پوهه چې وباوې څېړي.

**۲۹۸. پیټرالوژي (petrology):** هغه پوهه چې د تیږو منشاء، ترکیب او ساختمان څېړي.

**۲۹۹. پیمپالوژي (pimpology):** هغه پوهه چې دلالي یا دلال کېدل څېړي.

**۳۰۰. پلوټالوژي (plutology):** هغه پوهه چې شتمني څېړي.

**۳۰۱. پورنالوژي (pornology):** هغه پوهه چې جنسي اړیکي (جماع) څېړي. یا: د جنسي اړیکو په تړاو لوڅو لیکنو ته هم ویل کېږي.

**۳۰۲. پروټالوژي (protology):** د تیولوژي هغه څانګه چې منشاوې (سرچینې) او لومړني شیان تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۰۳. پنالوژي (punnology):** له لغتونو سره د لوبېدو هنر یا فعالیت د پنالوژي په نوم یادېږي.

**۳۰۴. پیرګالوژي (pyrgology):** هغه پوهه چې منارونه څېړي.

**۳۰۵. پاپیرالوژي (papyrology):** هغه پوهه چې پر پاپیروس لیکلي لرغوني متنونه څېړي.

**۳۰۶. پاسیمالوژي (pasimology):** د افهام او تفهیم لپاره د بدني حرکتونو استفاده (کارونه) د پاسیمالوژي په نوم یادېږي.

**۳۰۷. پېټریالوژي (patriology):** د عیسوي تیولوژۍ یوه څانګه چې خدای - ازلي پلار، څېړي.

**۳۰۸. پیسټیالوژي (pisteology):** هغه پوهه چې ایمان څېړي.

**۳۰۹. نیومالوژي (pneumology):** هغه پوهه چې تنفسي سیستم او غړي یې څېړي.

**۳۱۰. پوګونولوژي (pogonology):** هغه پوهه چې ږیره څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۱۱. پولمالوژي (polemology):** هغه پوهه چې بشري نښتي او جګړې څېړي.

**۳۱۲. پولیټالوژي (politology):** د ټولنیزو علومو هغه څانګه چې د سیاست، سیاسي سیسټمونو او سیاسي چلن وړاندوینه، تجزیه، سپړنه او تیوري څېړي.

**۳۱۳. پونرالوژي (ponerology):** هغه پوهه چې بدي / شر څېړي.

**۳۱۴. پوټامولوژي (potamology):** هغه پوهه چې سیندونه څېړي.

**۳۱۵. پراکسیالوژي (praxeology):** هغه پوهه چې انساني کړه وړه یا چلن څېړي.

**۳۱۶. پراکټالوژي (proctology):** د طب هغه څانګه چې مقعد او اړوندې برخې يې څېړي.

**۳۱۷. پوسیالوژي (pussyology):** هغه پوهه چې پیشوګانې څېړي.

**۳۱۸. پایراټولوژي (pyretology):** هغه پوهه چې تبې څېړي.

**۳۱۹. پانتیالوژي (pantheolgy):** د تیولوژي هغه سیسټم چې ټولو ادیانو ته په خپله غېږه کې ځای ورکوي؛ د تیولوژي ټولیز سیسټم ته هم ویل کېږي.

**۳۲۰. پارابیالوژي (parabiology):** هغه پوهه چې بیالوژیک پارا نورمال فعالیتونه څېړي.

**۳۲۱. پېرمیالوژي (paremiology):** هغه پوهه چې متلونه څېړي.

**۳۲۲. پرسونالوژي (personology):** د شخصیتي اړواپوهنې هغه تیوري چې هېنري موري او نورو ورته وده ورکړه.

**۳۲۳. پیفیلالوژي (piphilology):** د یوې بوختیا په توګه د پای (ریاضیکي عدد/سمبول) د شمېرو په یادو زده کول د پیفیلالوژي په نوم یادېږي.

**۳۲۴. پیسکټالوژي (piscatology):** هغه پوهه چې کب نیونه څېړي.

**۳۲۵. پلانیټالوژي (planetology):** هغه پوهه چې ستوري، ستوریز سیسټمونه او لمریز نظام څېړي.

**۳۲۶. پرایمټالوژي (primatology):** د زولوژي هغه څانګه چې پرایمېټونه (اولیه موجودات) څېړي.

**۳۲۷. پولمونولوژي (pulmonology):** د طب هغه څانګه چې د سږو او تنفسي جهاز ناروغۍ څېړي.

**۳۲۸. پایروبالوژي (pyroballogy):** هغه پوهه چې توپونه څېړي.

**۳۲۹. پالټیالوژي (palaetiology):** هغه پوهه چې د علت و معلول د قانون په اساس د ځمکې تېر حالات او بدلونونه څېړي.

**۳۳۰. پالیوبیالوژي (paleobiology):** د بیالوژي هغه څانګه چې د نباتاتو او حیواناتو فاسیلونه څېړي.

**۳۳۱. پالیوایکالوژي (paleoecology):** هغه پوهه چې د لرغوني تېرمهال ایکالوژي څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۳۲. پالیوجیولوژي (paleogeology):** په لرغوني تېر مهال کې د یوه خاص ځای ایکالوژي ته پالیوجیولوژي ویل کېږي.

**۳۳۳. پالیوبوټاني (paleobotany):** د پالیونټالوژي هغه څانګه چې نباتي فاسیلونه څېړي.

**۳۳۴. پالیوانټالوژي (paleontology):** هغه پوهه چې د ماقبل التاریخ یا جیولوژیکو وختونو ژوندي موجودات، په تېره هغه چې د فاسیلونو په ډول پاتې وي، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۳۵. پالیوزولوژي (paleozoology):** د زولوژي هغه څانګه چې فاسیلونه څېړي.

**۳۳۶. پاراډاکسالوژي (paradoxology):** د پاراډاکسونو کاروني ته پاراډاکسالوژي ویل کېږي.

**۳۳۷. پارسیټالوژي (parasitology):** هغه پوهه چې پرازیتونه څېړي.

**۳۳۸. پاتوبیالوژي (pathobiology):** د بیالوژي هغه څانګه چې پتالوژي څېړي او د طبي اړخونو پر ځای ډېر ټینګار یې پر بیالوژیکو مواردو وي.

**۳۳۹. پرنیټالوژي (perinatology):** د قابلګي هغه څانګه چې د کړکېچن زېږون پر طبي او عملیاتي مدیریت تمرکز کوي.

**۳۴۰. پي ایچ تیسیالوژي (phthisiology):** هغه پوهه چې د سږي توبرکلوز، د هغه درملنه او ساتنه څېړي.

**۳۴۱. پروټوزولوژي (protozoology):** هغه پوهه چې پروتوزوا څېړي.

**۳۴۲. پیرمیډالوژي (pyramidology):** هغه پوهه چې اهرامونه څېړي، خو د تاریخي یا لرغونپوهنیز لیدلوري پر ځای ماوراء الطبیعي یا د عصر جدید لیدلوری کاروي.

**۳۴۳. پانکریټالوژي (pancreatology):** هغه پوهه چې د پانکراس غده څېړي.

**۳۴۴. پراسوپونالوژي (prosoponology):** د ماسکونو غونډولو او ډلبندۍ ته پراسوپونالوژي ویل کېږي.

**۳۴۵. پرو-وربیالوژي (proverbiology):** هغه پوهه چې متلونه څېړي.

**۳۴۶. پالیو آکسي لالوژي (palaeoxylology):**

هغه پوهه چې فاسیلي لرګي، که تېره شوي وي یا نه، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۴۷. پالیونیورالوژي (paleoneurology):** هغه پوهه چې د له منځه تللیو حیواناتو عصبي سیستم څېړي.

**۳۴۸. پالیوپتالوژي (paleopathology):** هغه پوهه چې لرغوني ناروغۍ څېړي.

**۳۴۹. پالیوفایکالوژي (paleophycology):** د پالیونټالوژي هغه څانګه چې فاسیلي الجي څېړي.

**۳۵۰. پالیو فایټالوژي (paleophytology):** وګورئ: پالیوبوټاني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۵۱. پالیو راډیولوژي (paleoradiology)**: د لرغونو پاتې شونو او اثارو د څېړنې لپاره د عصري رایډلوژیکو تخنیکونو کارونه د پالیو راډیولوژي په نوم یادېږي.

**۳۵۲. پاراسایکالوژي (parapsychology)**: د هغه څه پوهه چې تر دمګرۍ نه شي تشریح کېدای؛ رواني یا ماوراء الطبیعي پدیدې، لکه ټیلي پاتي او ارواوې.

**۳۵۳. پیډو مورفولوژي (pedomorphology)**: د خاورې مورفولوژي (جوړښت/بنې) ته پیډو مورفولوژي ویل کېږي.

**۳۵۴. پیریوډانټالوژي (periodontology)**: پیرډیوډانتیک؛ هغه پوهه چې د غاښونو حمایوي جوړښتونه – ژامې، ووری، هډوکی، سیمنټم – او هغه شرایط او رنځونه څېړي چې پر غاښونو اغېز کوي.

**۳۵۵. فوټو پټالوژي (photopathology)**: د پټالوژي هغه څانګه چې هغه ناروغۍ څېړي چې رڼا ته د ظاهرېدو له امله پیدا شوې وي.

**۳۵۶. فایټولیتالوژي (phytolithology)**: هغه پوهه چې فاسیلي نباتات څېړي؛ پالیوبوټاني؛ پالیوفایټالوژي.

**۳۵۷. فایټوپټالوژي (phytopathology)**: هغه پوهه چې د نباتاتو ناروغۍ څېړي؛ نباتي پټالوژي.

**۳۵۸. فایټوسوشیالوژي (phytosociology)**: هغه پوهه چې د نباتي ټولنو ایکالوژي، ډلبندي او خپرېدل څېړي.

**۳۵۹. پولي ګلاټالوژي (polyglottology)**:د ډېرو ژبو کارونه د پولي ګلاټالوژي په نوم یادېږي.

**۳۶۰. پرابلمټالوژي (problematology)**: د فلسفې هغه بڼه چې پر پوښتلو (questioning) ولاړه ده.

**۳۶۱. سایکاټوپالوژي (psychotopology)**: د ځای رواني بعد؛ د یو چا پر ذهني او احساساتي حالت د فزیکي چاپېریال اغېز د سایکاټوپالوژي په نوم یادېږي.

**۳۶۲. پیډوسایکالوژي (paedopsychology)**: هغه پوهه چې د ماشوم او/یا نوزېږي د ذهن (یا اروا چې اوس نه کارېږي) طبیعت، کار کولو طرز او وده تر څېړنې لاندې نیسي؛ د ماشوم ارواپوهنه.

یا: د ماشوم د ذهن یا اروا سیستماټیکه څېړنه یا تیوریکه شننه د پیډوسایکالوژي په نوم یادېږي.

**۳۶۳. پالیوهایډرالوژي (palaeohydrology)**: هغه پوهه چې لرغوني سیندونه او نور اوبیز خواص څېړي.

**۳۶۴. پالیوماسټالوژي (palaeomastology)**: وګورئ: پالیومامالوژي.

**۳۶۵. پالیوکرونولوژي (paleochronology)**: ماقبل التاریخ کرونولوژي د پالیوکرونولوژي په نوم یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۶۶. پاليوفزيالوژي (paleophysiology):** هغه پوهه چې د حيواني فزيالوژي ارتقايي (تکاملي) اساس څېړي.

**۳۶۷. پاليو اورنتهالوژي (paleoornithology):** د پاليونتهالوژي هغه څانګه چې فاسيلي مرغان څېړي.

**۳۶۸. پاتو مورفولوژي (pathomorphology):** هغه پوهه چې د يوه پاتولوژيک حالت مورفولوژي څېړي.

**۳۶۹. پاتو فزيالوژي (pathophysiology):** هغه پوهه چې په ناروغۍ او ټپ (زخم) پورې تړلي فزيولوژيک بهيرونه څېړي.

**۳۷۰. پاټرونوموټالوژي (patronomatology):** د علم هغه څانګه چې شخصي نومونه او د هغو منشاء څېړي؛ د پاټرونوميکونو څېړنه.

**۳۷۱. پايکورنا ويرولوژي (picornavirology):** هغه پوهه چې پايکورنا ويروسونه څېړي. پايکورنا هغه ويروسونه دي چې ډېرى يې سرايت کوونکي او د پوليو، د پښې و خولې ناروغۍ او د ټوخلي بېلا بېل ډولونه او د داسې نورو ناروغيو لامل ګرځي.

**۳۷۲. ټايلوکرونولوژي (ptilochronology):** هغه پوهه چې د غذايي حالت د يوه انډيکس په توګه د وزرونو د ودې فيصدي څېړي.

**۳۷۳. پاليوکليمټالوژي (palaeoclimatology):** هغه پوهه چې د ځمکې ماقبل التاريخ اقليم څېړي.

**۳۷۴. پاليو انتروپولوژي (paleoanthropology):** هغه پوهه چې لرغوني انساني پاتې شوني څېړي.

**۳۷۵. پاليو اپيډمیالوژي (paleoepidmeiology):** هغه پوهه چې له اپيدميالوژيک اړخه د لرغونو وختونو ناروغۍ څېړي.

**۳۷۶. پوسټ-فينامينالوژي (postphenomenology):** د فينامينالوژي نوې بڼه چې موخه يې د ذهن ګرايي يا موضوعيت پر محدوديتونو برلاستيا ده.

**۳۷۷. پاليو هيستوپتالوژي (paleohistopathology):** هغه پوهه چې د لرغونو ناروغيو هيستوپتالوژي څېړي.

**۳۷۸. پاتو نيورو فزيالوژي (pathoneurophysiology):** د ناروغۍ نيوروفزيالوژي ته پاتو نيورو فزيالوژي ويل کېږي.

**۳۷۹. پاتولوژيکل هيسټالوژي (pathological histology):** هغه پوهه چې د ژوندي موجود ناروغه نسجونه څېړي. (د نورمال هيسټالوژي پر خلاف، چې روغ نسجونه څېړي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ت

**۳۸۰. تیالوژي (thealogy):** هغه پوهه چې له فیمنیستي لیدلوري خداینه یا ښځینه خدای تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۸۱. تیولوژي (theology):** هغه پوهه چې خدای (ازلي خدای)، یو خدای، یا خدایان او په ټوله کې د دین رښتینولي تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۸۲. تیریالوژي (thereology):** تیراپیوټکس؛ د ناروغیو درملنه؛ یا د شفا (درملنې) پوهې ته تیریالوژي ویل کېږي.

**۳۸۳. ترمالوژي (thermology):** هغه پوهه چې تودوخه څېړي.

**۳۸۴. ټیبیټالوژي (Tibetology):** هغه پوهه چې تبت، د دې سیمې تاریخ او کلچر څېړي.

**۳۸۵. تاناټولوژي (thanatology):** هغه پوهه چې مړینه او په مرګ پورې تړلي موارد، او همدا رنګه په مرض الموت اخته وګړي او د هغه د کورنۍ اړتیاوې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۸۶. تیماټالوژي (thematology):** هغه پوهه چې په ادبیاتو، په تېره له جیوګرافیک اړخه تقسیم شوي، کلچر کې تیمونه **(themes)** څېړي.

**۳۸۷. تریپسالوژي (threpsology):** د تغذیې ګروهې ته تریپسالوژي ویل کېږي.

**۳۸۸. تاماټولوژي (thaumatology):** هغه پوهه چې معجزې څېړي.

**۳۸۹. ترماټالوژي (thermatology):** د درمان پوهنې هغه څانګه چې د درملنې لپاره د تودوخې کارونه څېړي.

**۳۹۰. تریماټالوژي (thremmatology):** هغه پوهه چې د بوټو او ژوو تکثیر او تناسل څېړي.

**۳۹۱. تیوریوګنالوژي (theriogenology):** د وترنرۍ طب هغه څانګه چې تناسل څېړي.

**۳۹۲. تیو تاناټولوژي (theothanatology):** د هغه فکر یو لړ فلسفي او تیولوژیکي موندنې چې ښايي خدای مړ وي.

# ټ

**۳۹۳. ټاکسیکو پټالوژي (toxicopathology):** هغه پوهه چې په هغو حجراتو، نسجونو او غړو کې جوړښتي او عملیاتي بدلونونه څېړي چې په زهرو یا زهرجنو موادو ککړ وي.

**۳۹۴. ټرانسپلانټالوژي (transplantology):** د طب هغه څانګه چې د غړو په بدلولو (یا تعویض الاعضاء) کې ښکېل مسایل څېړي.

**۳۹۵. ټاکسیکو فارماکولوژي (toxicopharmacology):** د زهري موادو فارماکولوژي ته ټاکسیکو فارماکولوژي ویل کېږي.

**۳۹۶. ټرانسلاټالوژي (translatology):** وګورئ: ټراډکټالوژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۹۷. ټنګوسالوژي (Tungusology):** هغه پوهه چې ټنګوسي ژبې څېړي.

**۳۹۸. ټین ټینالوژي (tintinlogy):** هغه پوهه چې د The Adventures of Tintin سریال په اکاډمیکه زمینه کې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۳۹۹. ټوپوبیالوژي (topobiology):** هغه پوهه چې بیالوژیکي بڼې (شکلونه) څېړي.

**۴۰۰. ټکنیکالوژي (technicology):** وګورئ: ټکنالوژي.

**۴۰۱. ټیمپسټالوژي (tempestology):** هغه پوهه چې سایکلونونه، هریکن توپانونه او ورته ستر واقعات څېړي.

**۴۰۲. ټیمبرالوژي (timbrology):** هغه پوهه چې مهرونه څېړي. د مهرونو غونډولو ته هم ویل کېږي.

**۴۰۳. ټاکسیکالوژي (toxicology):** د فارماکولوژي هغه څانګه چې د زهرونو او مسموم کولو طبیعت، اغېزه، تشخیص او درملنه څېړي.

**۴۰۴. ټولکینالوژي (Tolkienology):** هغه پوهه چې د برتانوي لیکوال جې. آر. ټولکین پنځونې او کارونه څېړي.

**۴۰۵. ټراډکټالوژي (traductology):** هغه پوهه چې د ژباړې او ترجمانۍ تیوري او عمل، په تېره په یوه اکاډمیکه زمینه کې تر څېړنې لاندې نیسي، داسې چې د ټولنیزو او انساني علومو عناصر هم ورسره مل وي. دېره عامه اصطلاح ورته د ژباړې مطالعات یا ټرانسلاټالوژي کارېږي.

**۴۰۶. ټرانزیټالوژي (transitology):** هغه پوهه چې له یوه سیاسي رژیم څخه بل سیاسي رژیم ته د بدلون (اوښتلو) بهیر څېړي.

**۴۰۷. ټراماټالوژي (traumatology):** د طب هغه څانګه چې د ټراما تشخیص او درملنه څېړي.

**۴۰۸. ټیلي پټالوژي (telepathology):** د ټیلي کمونیکېشن له لارې د ناروغۍ تشخیص د ټیلي پټالوژي په نوم یادېږي؛ لر رنځپوهه.

**۴۰۹. ټیلي سایزمولوژي (teleseismology):** د سایزمولوژي هغه څانګه چې د لرې واټن سایزمي پېښې څېړي یا ثبتوي.

**۴۱۰. ټونو مورفولوژي (tonomorphology):** هغه پوهه چې توني جوړښت څېړي.

**۴۱۱. ټایپوکرونولوژي (typochronology):** د شیانو د ټولګې په یو ډول کې کرونولوژیک توپیر د ټایپوکرونولوژي په نوم یادېږي.

**۴۱۲. ټیلي ډرماټالوژي (teledermatology):** د پوستکي په حالتونو او تومورونو پورې اړوند طبي معلوماتو د لېږد لپاره د ټیلي کمونیکېشن ټکنالوژۍ کارونه د ټیلي ډرماټالوژي په نوم یادېږي.

**۴۱۳. ټریکالوژي (trichology):** هغه پوهه چې وېښتان تر څېړنې لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۱۴. ټروفالوژي (trophology):** هغه پوهه چې تغذیه څېړي.

**۴۱۵. ټایفلولوژي (typhlology):** هغه پوهه چې ړوندوالی (نابینایي) څېړي.

**۴۱۶. ټانګوټالوژي (Tangutology):** هغه پوهه چې د ټانګوټ سیمې خلک، کلچر او ژبه څېړي.

**۴۱۷. ټلماټالوژي (telmatology):** هغه پوهه چې لمده یا زیمناکه ځمکه څېړي.

**۴۱۸. ټرمینالوژي (terminology):** د اصطلاحاتو هغه ډله چې په تجارت، هنر، ساینس او داسې نورو برخو کې کارېږي. یا: د اصطلاحاتو عقیدې ته هم ویل کېږي. یا: هغه پوهه چې اصطلاحات څېړي.

**۴۱۹. ټرمونولوژي (terminology):** وګورئ: ټرمینالوژي.

**۴۲۰. ټاکالوژي (ptochology):** هغه پوهه چې نېستي (فقر) څېړي.

**۴۲۱. ټاکسالوژي (taxology):** ټاکسونومي؛ هغه پوهه یا تخنیک چې د ډلبندۍ لپاره کارول کېږي. یا: هغه پوهه چې د ارګانیزمونو موندنه، سپړنه، ډلبندۍ او نومونه څېړي.

**۴۲۲. ټایډولوژي (tidology):** هغه پوهه چې مد و جزر څېړي.

**۴۲۳. ټوکولوژي (tocology):** د طب هغه څانګه چې زېږون (د ماشوم حمل) څېړي.

**۴۲۴. ټونولوژي (tonology):** هغه پوهه چې په انساني ژبو کې غاړه (ټون) څېړي.

**۴۲۵. ټوپولوژي (topology):** د ریاضیاتو هغه څانګه چې د یوه هندسي شکل یا جامد هغه ځانګړنې څېړي چې په کشولو، کږولو او نورو ورته حالتونو بدلون نه خوري.

**۴۲۶. ټاکسولوژي (toxology):** هغه پوهه چې توپونه او د توپونو د ګوزارولو مسیر/خط څېړي.

**۴۲۷. ټایپولوژي (typology):** هغه پوهه چې سمبولیکه ښودنه، په تېره د مذهبي متنونو منشا او معنا تر څېړنې لاندې نیسي. یا: د مشترکو ځانګړنو له مخې د یو شي د ډولونو سیسټماټیکه ډلبندي د ټایپولوژي په نوم یادېږي.

**۴۲۸. ټاسالوژي (tassology):** ټاسیوګرافی؛ د چایو د پاڼو یا قهوې د ذراتو په مټ فال ښودنه یا وړاندوینه کول.

**۴۲۹. ټیلیالوژي (teleology):** هغه پوهه چې د طبیعي پېښو موخه او ډیزاین څېړي.

**۴۳۰. ټروپالوژي (tropology):** د اخلاقي او نورو معناوو د استنباط لپاره د یوه مذهبي متن یا بلې پنځونې تعبیر د ټروپالوژي په نوم یادېږي.

**۴۳۱. ټرکالوژي (Turkology):** هغه پوهه چې د ترکيې د وګړو ژبې، تاریخ او کلتور څېړي.

**۴۳۲. ټیپټالوژي (typtology):** هغه پوهه چې د ارواوو د استحظار په ځای کې د ارواوو له خوا تولید شوي کړپند غږونه څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۳۳. ټکنالوژي (technology):** د عملي مقاصدو لپاره د علم تنظيم او ترتيب ته ټکنالوژي ويل کېږي. يا: ټولې ېېلا بېلې او کار وړ ټکنالوژۍ چې يوه کلچر يا خلکو پنځولې وي.

# ج

**۴۳۴. جيولوژي:** هغه پوهه چې د ځمکې (يا نورو ستورو) جوړښت، د هغو منشاء او رامنځته کېدل څېړي. دغه راز، د يوې سيمې جغرافيوي جوړښت ته هم ويل کېږي.

**۴۳۵. جيمولوژي:** هغه پوهه چې ګرانبيه ملغلرې او تيږې څېړي.

**۴۳۶. جيمنالوژي (geminology):** هغه پوهه چې غبرګوني (ورونه/خويندې) څېړي.

**۴۳۷. جينيالوژي (genealogy):** هغه پوهه چې نسب څېړي. د شجرې يا نسب نامې جوړولو ته هم جينيالوژي ويل کېږي. نسب پوهنه / علم الانساب.

**۴۳۸. جينکالوژي (genecology):** د ايکالوژي هغه څانګه چې په بېلا بېلو محيطونو کې جنيټيک توپيرونه څېړي.

**۴۳۹. جيوبيالوژي (geobiology):** هغه پوهه چې له جيولوژي او بيالوژي څخه ترکيب شوې.

**۴۴۰. جيوايکالوژي (geoecology):** هغه پوهه چې له جيولوژي او بيالوژي څخه ترکيب شوې.

**۴۴۱. جيراټالوژي (geratology):** هغه پوهه چې د لوړ عمر کسان، د هغو ناروغۍ او په زړښت پورې تړلي نور موارد څېړي.

**۴۴۲. جيپسيالوژي (gypsiology):** هغه پوهه چې د جټانو ژوند او کلچر څېړي.

**۴۴۳. جينسيالوژي (genesiology):** هغه پوهه چې تناسل څېړي.

**۴۴۴. جيرنټالوژي (gerontology):** هغه پوهه چې د زاړه عمر خلک يا پخپله د زړښت پروسه څېړي. يا: هغه پوهه چې د عمر خوړلو کسانو پرابلمونه څېړي.

**۴۴۵. جايګنټالوژي (gigantology):** هغه پوهه چې بلاوې (دېبان) څېړي.

**۴۴۶. جيومايتالوژي (geomythology):** د هغو خرافاتو څېړنه چې په جيولوژيکو ځانګړنو او پېښو پورې اړوند وي.

**۴۴۷. جينتليالوژي (genethlialogy):** د نو زېږي ماشوم د برخليک او تقدير وړاندوينه کول د جينتليالوژي په نوم يادېږي.

**۴۴۸. جيوکرونولوژي (geochronology):** د تيږو او کاڼو د نېټو ټاکلو پوهې ته جيوکرونولوژي ويل کېږي.

**۴۴۹. جيومورفولوژي (geomorphology):** هغه پوهه چې ځمکبڼې (landforms) لکه غر، دره، سيند... ، د هغو ډلبندي، منشاء، رغېدنه او تاريخ تر څېړنې لاندې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۵۰. جیوفزیالوژي (geophysiology):** هغه پوهه چې د ځمکې پر سر د ژونديو موجوداتو تعامل څېړي او پر دې فرضيې بنا ده چې ځمکه پخپله د يوازيني ژوندي ارګانيزم په توګه فعاليت کوي.

**۴۵۱. جينالوژي (jineology):** د فيمنستي نظريې هغه مکتب چې په کردستان کې يې بېلا بېلو چپي ګوندونو ملاتړ کړ.

**۴۵۲. جکسټالوژي (juxtology):** هغه پوهه چې په ادب کې د متن او معنا مجاورت (نږدېکت) څېړي.

**۴۵۳. جاپانالوژي (Japanology):** هغه پوهه چې جاپان، د جاپان ژبه، کلچر او تاريخ تر څېړنې لاندې نيسي.

**۴۵۴. جوسيفالوژي (Josephology):** هغه پوهه چې د سېنټ جوسيف (يوسف) تيولوژي څېړي.

## چ

**۴۵۵. چيرولوژي** (cherology): د اشاروي ژبو لپاره د غږپوهنې يا فونولوژۍ معادله پوهه ده.

**۴۵۶. چايرولوژي** (chirology): هغه پوهه چې د ورغوي لوستنه څېړي.

**۴۵۷. چيزالوژي (cheesology) :** هغه پوهه چې پنير څېړي.

**۴۵۸. چېسالوژي (chessology):** هغه پوهه چې چېس (شطرنج) څېړي.

**۴۵۹. چېرالوژي (chierology):** هغه پوهه چې د ګوتو په استفاده د تورو او لغتونو ښودنه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۴۶۰. چيروپ ټرالوژي (chiropterology):** هغه پوهه چې اسمانځکالي څېړي.

## ډ

**۴۶۱. ډاټالوژي (datalog):** هغه پوهه چې کمپيوټر څېړي، د ډاټالوژي په نوم يادېږي. يا کمپيوټرپوهنې ته ډاټالوژي هم ويل کېږي.

**۴۶۲. ډوسالوژي (dosology):** هغه پوهه چې د درملو نسخه يا د درملو د مصرف اندازه څېړي.

**۴۶۳. ډيسمالوژي** (desmology): د اناټومي هغه څانګه چې پله تر څېړنې لاندې نيسي.

**۴۶۴. ډايابولوژي** (diabology): هغه پوهه چې له ديني اړخه شيطان يا ابليس تر څېړنې لاندې نيسي.

**۴۶۵. ډيکالوژي** (dickology): هغه پوهه چې د نارينه تناسلي غړی تر څېړنې لاندې نيسي.

**۴۶۷. ډيپسالوژي** (dipsology): هغه پوهه چې د الکولي څښاکونو لپاره تنده تر څېړنې لاندې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۶۸. ډراکالوژي** (dracology)**:** هغه پوهه چې ښاماران څېړي.

**۴۶۹. ډلټیالوژي (deltiology):** هغه پوهه چې پوستي کارتونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۷۰. ډیمنالوژي (demonology):** هغه پوهه چې بلاګانې، په تېره بیا هغه منترونه او طلسمونه چې د هغو د را بللو او کنټرول لپاره پکارېږي، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۷۱. ډنډرالوژي (dendrology):** هغه پوهه چې ونې او نور لرګین بوټي څېړي.

**۴۷۲. ډیونټالوژي (deontology):** د اخلاقیاتو هغه څانګه چې د یوه کار د اخلاقي درېځ قضاوت د ټولنیزو قوانیونو او ارزښتونو له مخې کوي او د هغه کار ذاتي ښه والی یا پایلې په پام کې نه نیسي.

**۴۷۳. ډاکټیلالوژي (dactylology):** هغه پوهه چې د افکارو د تبادلې لپاره د ګوتو او لاسونو کارونه، په تېره بیا د یوه کوڼ وګړي له لوري د لاسونو او ګوتو حرکات تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۷۳. ډیفیکټالوژي (defectology):** هغه پوهه چې د معلولو ماشومانو روزل مطالعه کوي او د هغه روزنیز سیسټم لپاره هم کارول کېږي چې ښوونکي یې د معلولو ماشومانو د روزنې لپاره کاروي.

**۴۷۴. ډرمټالوژي (dermatology):** هغه پوهه چې پوستکی او د پوستکي ناروغۍ څېړي.

**۴۷۵. ډایابټالوژي (diabetology):** هغه پوهه چې د شکر تشخیص او درملنه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۴۷۶. ډایانویالوژي (dianoialogy):** هغه پوهه چې ذهني او عقلي وړتیاوې څېړي.

**۴۷۷. ډیپټرالوژي (dipterology):** هغه پوهه چې مچان څېړي.

**۴۷۸. ډراګنالوژي (dragnology):** هغه پوهه چې ښاماران څېړي.

**۴۷۹. ډایلنالوژي (Dylanology):** هغه پوهه چې د باب ډایلن موسیقي او سندرې څېړي.

**۴۸۰. ډاکټیلیالوژي (dactyliology):** د ارکیالوژي هغه څانګه چې د غمیو (ملغلرو) تورنه څېړي. یا: د ارکیالوژي هغه څانګه چې ګوتمۍ (ګوتې) څېړي.

**۴۸۱. ډلفینالوژي (delphinology):** هغه پوهه چې ډولفینونه څېړي.

**۴۸۲. ډایاکانیالوژي (diaconiology):** هغه پوهه چې دفترونه او د یوې ځانګړې کلیسا اداري تشکیل (سلسه مراتب) څېړي.

**۴۸۳. ډیالکټالوژي (dialectology):** هغه پوهه چې لهجې (ګړدودونه) څېړي.

**۴۸۴. ډیسټیلیالوژي (dysteleology):** هغه پوهه چې د حیوناتو او نباتاتو هغه غړي څېړي چې په ظاهره بې دندې او بې ګټې ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۸۵. ډاينوساورولوژي (dinosaurology):** د پالیانټالوژي هغه څانګه چې ډایناسورونه مطالعه کوي.

**۴۸۶. ډیپلومټالوژي (diplomatology):** هغه پوهه چې ډیپلوماسي، چارټرونه، سیاسي نظریات او داسې نور څېړي.

**۴۸۷. ډاکومنټالوژي (documentology):** هغه پوهه چې د معلوماتو ثبت او اخذ تر څېړنې لاندې نیسي. یا: هغه پوهه چې تاریخي اسناد او معلومات څېړي.

**۴۸۸. ډونهانګالوژي (Dunhaungology):** هغه پوهه چې د چین «ډونهانګ» ښار څېړي، په تېره بیا د دې ښار پر کلتوري او تاریخي میراث خبرې کوي.

**۴۸۹. ډیسمورفولوژي (dysmorphology):** هغه پوهه چې ارثي (جنیتیک) عوارض څېړي، په تېره پیدایشي عیبونه.

**۴۹۰. ډرمټوپټالوژي (dermatopathology):** هغه پوهه چې په مایکروسکوپي کچه د پوستکي ناروغۍ څېړي.

**۴۹۱. ډرمټو اونیریالوژي (dermatovenereology):** هغه پوهه چې په پوستکي باندې د هغې ناروغۍ اغېزې څېړي چې په جنسي ډول انتقال شوې وي.

## ر

**۴۹۲. ریالوژي (rheology):** د فزیک هغه څانګه چې د مادې جریان او ویجاړتیا (deformation) څېړي.

**۴۹۳. رونالوژي (runology):** هغه پوهه چې رونیک الفبا، د هغو کتیبې (لاسي نسخې) او تاریخ څېړي.

**۴۹۴. راډیولوژي (radiology):** د تشخیص او درملنې لپاره راډیو اکټیف مواد کارول د راډیولوژي په نوم یادېږي.

**۴۹۵. رینالوژي (rhinology):** هغه پوهه چې پوزه څېړي.

**۴۹۶. ریزالوژي (rhizology):** هغه پوهه چې نباتي ریښې څېړي.

**۴۹۷. رمپالوژي (rumpology):** هغه وړتیا چې له مخې یې د یوه کس د کوناټو د ځانګړنو د لوستلو له لارې د هغه د راتلونکي وړاندوینه کېدای شي.

**۴۹۸. ریټینالوژي (retinology):** هغه پوهه چې د سترګې شبکیه څېړي.

**۴۹۹. ریفلکسالوژي (reflexology):** هغه پوهه چې ساده او پېچلي غبرګونونه څېړي.

**۵۰۰. ریپرالوژي (Ripperology):** هغه پوهه چې جېک ریپر نومي قاتل څېړي. نوموړی د نولسمې پېړۍ په وروستیو وختونو کې د لندن د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایټ چیپل ولسوالۍ یو ناپېژانده قاتل وو چې پرلپسې وژنې به یې کولې.

**۵۰۱. راډیوبیالوژي (radiobiology):** هغه پوهه چې پر ژوندیو موجوداتو د وړانګو اغېزې څېړي.

**۵۰۲. راډیو ایکالوژي (radioecology):** هغه پوهه چې په چاپېریال باندې د راډیو اکټیف موادو اغېزې او برخلیک څېړي.

**۵۰۲. راډیو جیولوژي (radiogeology):** هغه پوهه چې د ځمکې پر مخ د راډیو اکټیف عناصرو خپرېدل څېړي.

**۵۰۳. ریماټولوژي (rheumatology):** د طب هغه څانګه چې د بندونو پاړسوب او د مفصلونو نور مرضونه څېړي.

**۵۰۴. روټا ویرولوژي (rotavirology):** هغه پوهه چې روټا ویروسونه څېړي.

**۵۰۵. راډیو اونکالوژي (radiooncology):** په انکالوژي کې د راډیو تیراپي کارونه د راډیو اونکالوژي په نوم یادېږي.

**۵۰۶. رو انټجینالوژي (roentgenology):** راډیوګرافي؛ د راډیوګرافونو د جوړولو بهیر او د هغو د تحلیل پوهې ته رو انټجینالوژي یا راډیوګرافي ویل کېږي.

**۵۰۷. راډیو کرونولوژي (radiochronology):** هغه تخنیک چې په هغه کې د معلومو راډیو اکټیف آیزوټوپونو نسبتونه اندازه کېږي او له دې لارې د یوه اثر مطلق عمر ټاکل کېږي.

**۵۰۸. راډیو مورفولوژي (radiomorphology):** د راډیو ستورو (او نورو ورته راډیو سرچینو) مورفولوژي ته راډیو مورفولوژي ویل کېږي.

**۵۰۹. راډیو ټکنالوژي (radiotechnology):** هغه ټکنالوژي چې په خپل ځان کې راډیویي څپې او راډیو کمونیکېشن رانغاړي.

**۵۱۰. راډو ټاکسیکالوژي (radiotoxicology):** هغه پوهه چې راډیو ټاکسي سیټي څېړي.

**۵۱۱. رینولارینګالوژي (rhinolaryngology):** هغه پوهه چې پوزه او ستونی، په تېره د هغو اناټومي، فزیالوژي او پتالوژي څېړي.

**۵۱۲. راډیېشن بیالوژي (radiation biology):** هغه پوهه چې پر بیالوژیکو سیسټمونو د ایوني یا غیر ایوني وړانګو اغېز څېړي.

**۵۱۳. راډیو فارماکولوژي (radiopharmacology):** هغه پوهه چې د راډیو درملو تولید او کارونه څېړي.

**۵۱۴. رینو هیسټو پتالوژي (renohistopathology):** د پښتورګو هیسټو پتالوژي ته رینو هیسټو پتالوژي ویل کېږي.

# ز

**۵۱۵. زولوژي:** د بیالوژي هغه څانګه چې د ټولو ژوندیو او له منځه تللو حیواناتو چاپېریال، د هغو جوړښت، منشاء و زوکړه، تکامل، ډلبندي، عادتونه او وده تر څېړنې لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۱۶. زينالوژي (xenology):** هغه پوهه چې اېلين (د بلې سيارې مخلوق) څېړي.

**۵۱۷. زايلولوژي (xylology):** هغه پوهه چې لرګی څېړي.

**۵۱۸. زينوبيالوژي (xenobiology):** زموږ له ځمکې څخه بهر د نورو ژونديو موجوداتو (فضايي مخلوقاتو) په هکله اټکلي بيالوژي د زينو بيالوژي په نوم يادېږي.

**۵۱۹. زينو جيولوژي (xenogeology):** هغه پوهه چې د فضايي مخلوقاتو جيولوژي څېړي.

**۵۲۰. زينو زولوژي (xenozoology):** د زينولوژي هغه څانګه چې زموږ له ځمکې څخه بهر شته حيوانات څېړي.

**۵۲۱. زينو سايټولوژي (xenocytology):** هغه پوهه چې زموږ له ځمکې څخه بهر شته حجرات څېړي.

**۵۲۲. زينو ميتالوژي (xenomythology):** هغه پوهه چې د فضايي مخلوقاتو اسطورې او افسانې څېړي.

**۵۲۳. زينو پتالوژي (xenopathology):** هغه پوهه چې زموږ د کهکشان د بېلا بېلو ژونديو نوعو ترمنځ د ناروغيو طبيعت، د ناروغيو لاملونه، بهيرونه، منځته راتګ او پايلې څېړي.

**۵۲۴. زينو سوشيالوژي (xenosociology):** هغه پوهه چې د فضايي مخلوقاتو سوشيالوژي څېړي.

**۵۲۵. زينو مورفولوژي (xenomorphology):** هغه پوهه چې زموږ له ځمکې څخه بهر شته بيالوژيک جوړښتونه څېړي.

**۵۲۶. زينو سايکالوژي (xenopsychology):** هغه پوهه چې د فضايي مخلوقاتو روان (اروايي حالت) څېړي.

**۵۲۷. زينو ارکيالوژي (xenoarchaeology):** هغه افسانوي پوهه چې د فضايي مخلوق د کلچرونو فزيکي پاتې شوني څېړي. دغه پاتې شوني پر هغو سيارو موندل کېداى شي چې يادو مخلوقاتو پکې ژوند تېر کړی وي يا يې ليدنه ترې کړې وي.

**۵۲۸. زينو انتروپولوژي (xenoanthropology):** د زينولوژي هغه څانګه چې بل ستوريز کلچرونه څېړي.

**۵۲۹. زينو بکټرياولوژي (xenobacteriology):** هغه پوهه چې د بلې سيارې بکټرياوې څېړي.

**۵۳۰. زينو مايکرو بيالوژي (xenomicrobiology):** هغه پوهه چې بل ستوريز مايکرو ارګانيزمونه څېړي.

**۵۳۱. زيمالوژي (zymology):** هغه پوهه چې تخمر (خميره کول يا کېدل) څېړي.

**۵۳۲. زايتولوژي (zythology):** هغه پوهه چې د اوربشو اوبه يا د اوربشو د اوبو دم کول (اېشول) څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۳۳. زو ایکالوژي (zooecology):** د ایکالوژي هغه څانګه چې د ژوو او د هغو د چاپېریالونو ترمنځ اړیکي څېړي.

**۵۳۴. زو جیولوژي (zoogeology):** هغه پوهه چې د فاسیلي حیواناتو پاتې شوني څېړي.

**۵۳۵. زونوسالوژي (zoonosology):** هغه پوهه چې حیواني ناروغۍ څېړي.

**۵۳۶. زوپتالوژي (zoopathology):** هغه پوهه چې د حیواناتو پتالوژي څېړي.

**۵۳۷. زوفایټولوژي (zoophytology):** هغه پوهه چې د زوفایټونو طبیعي تاریخ څېړي.

**۵۳۸. زو مورفولوژي (zoomorphology):** د حیواناتو مورفولوژي ته زو مورفولوژي ویل کېږي.

**۵۳۹. زو موزیکالوژي (zoomusicology):** د زو سیمیاټک هغه څانګه چې د حیواناتو د غږونو موسیقیي اړخونه څېړي.

**۵۴۰. زوفزیالوژي (zoophysiology):** د ژوو فزیالوژي.

**۵۴۱. زو سایکالوژي (zoopsychology):** هغه پوهه چې په حیواناتو کې ارواپوهنه (سایکالوژي) مطالعه کوي.

**۵۴۲. زو ټکنالوژي (zootechnology):** د حیواناتو اړوند ټکنالوژي ته زو ټکنالوژي ویل کېږي.

# س

**۵۴۳. سیټالوژي (cetology):** د زولوژي هغه څانګه چې ستر بحري ژوي لکه نهنګ، ډالفن او سمندري سرکوزي تر څېړنې لاندې نیسي.

**۵۴۴. سینالوژي (cynology):** هغه پوهه چې سپي څېړي.

**۵۴۵. سایټالوژي (cytology):** هغه پوهه چې حجرات تر څېړنې لاندې نیسي.

**۵۴۶. سیریالوژي** (cereology): هغه پوهه چې د غلې (غنمو، وریځو...) په دایروي (یا کوم بل هندسي) شکل کوټه کول څېړي.

**۵۴۷. سیرمالوژي (ceramology):** هغه پوهه چې سرامیک (د کلالۍ صنعت) تر څېړنې لاندې نیسي.

**۵۴۸. سربرالوژي (cerebrology):** هغه پوهه چې ماغزه یا د مغزو مخنۍ برخه څېړي.

**۵۴۹. سینماټولوژي (cinematology):** هغه پوهه چې د سینمایي فلمونو جوړول څېړي.

**۵۵۰. سایټوپتالوژي (cytopathology):** د پتالوژي هغه څانګه چې د حجراتو ګډوډۍ (اختلالات) څېړي.

**۵۵۱. سایټو امبریالوژي (cytoembryology):** د جنین سایټولوژي د سایټو امبریالوژي په نوم یادېږي.

**۵۵۲. سایټو فزیالوژي (cytophysiology):** هغه پوهه چې د حجراتو فزیالوژي څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۵۳. سربرو فزيالوژي (cerebrophysiology):** هغه پوهه چې ماغزه، د مغزو جوړښت او دندې څېړي.

**۵۵۴. سايټو هيسټا پټالوژي (cytohistopathology):** د حجراتو هيسټا پټالوژي ته سايټو هيسټا پټالوژي ويل کېږي.

**۵۵۵. سامالوژي (psammology):** د جيولوژۍ هغه څانګه چې شګه څېړي.

**۵۵۶. سيفالوژي (psephology):** د ټاکنو احصايوي او اټکلي څېړنې ته سيفالوژي ويل کېږي.

**۵۵۷. سايکالوژي (psychology):** هغه پوهه چې انساني ذهن څېړي. يا: هغه پوهه چې انساني چلند څېړي. يا: هغه پوهه چې د حيواناتو چلن څېړي. د يوه شخص، ډلې يا فعاليت ذهني، احساساتي او چلني خواصو ته هم سايکالوژي ويل کېږي؛ ارواپوهنه.

**۵۵۸. سايکوبيالوژي (psychobiology):** هغه پوهه چې د ادراک او نورو ذهني پروسو لپاره بيالوژيک بنسټونه څېړي.

**۵۵۹. سايکو فارماکولوژي (psychopharmacology):** د فارماکولوژۍ هغه څانګه چې د درملو رواني-ذهني اړخونه څېړي.

**۵۶۰. سايکو نيورو ايمونولوژي (psychoneuroimmunology):** هغه پوهه چې د چلندي، عصبي، اندوکراين او دفاعي عمليو (چارو) ترمنځ تعامل څېړي.

**۵۶۱. سوډوميتالوژي (pseudomythology):** هغه ادبي پنځونه يا ليکنه چې د اسطورې ځينې اړخونه ولري؛ اسطوره وزمه ادبيات.

**۵۶۲. سوډوسوشيالوژي (pseudosociology):** د سوشيالوژي ناسمه او مصنوعي بڼه د سوډو سوشيالوژي په نوم يادېږي.

**۵۶۳. سايکوپټالوژي (psychopathology):** هغه پوهه چې د ذهني او چلندي ګډوډيو منشاء، وده، تشخيص او درملنه څېړي.

**۵۶۴. سايکوګرافولوژي (psychographology):** هغه پوهه چې د يوه کس د کرکټر شخصيت د شننې لپاره د نومونړي لاسي ليک تر څېړنې لاندې نيسي.

**۵۶۵. سايکوفزيالوژي (psychophysiology):** د فزيالوژۍ هغه څانګه چې د ذهن او فزيولوژيکو بهيرونو ترمنځ تعامل څېړي.

**۵۶۶. سايکوټکنالوژي (psychotechnology):** د ارواپوهنې ټکنالوژيکي کارونې (اپليکشن) ته سايکوټکنالوژي ويل کېږي.

**۵۶۷. سينالوژي (senology):** د طب هغه څانګه چې د سينې (تيونو) ګډوډۍ څېړي.

**۵۶۸. سيرالوژي (serology):** هغه پوهه چې د وينې سيروم (د وينې هغه پلازما چې د وينې حجرات، پلاټيلونه او فبرينوجن ترې ايستل شوي وي) او په تېره په سيروم کې د انټي جنونو او انټي باډيو ترمنځ غبرګون څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۶۹. سېکسالوژي (sexology):** هغه پوهه چې جنس (سکس) او جنسيت (سکشوالټي)، معمولا له رواني او طبي ليدلوري، تر څېړنې لاندې نيسي. سيکشوال ارواپوهنه هم ورته وايي.

**۵۷۰. سينالوژي (sinology):** هغه پوهه چې د چين هېواد تاريخ، ژبه او کلچر څېړي؛ چين پوهنه.

**۵۷۱. سايټالوژي (sitology):** هغه پوهه چې خواړه او تغذيه څېړي.

**۵۷۲. سارکالوژي (sarcology):** هغه پوهه چې د بدن نرمې برخې څېړي، چې په دې کې مايولوژي، انجيالوژي، نيورولوژي او سپلانکولوژي راځي.

**۵۷۳. سکاټالوژي (scatology):** هغه پوهه چې د انسان ډکې بولې تر څېړنې لاندې نيسي. د ډکو بولو علمي او کيمياوي شننه د سکاټالوژي په نوم يادېږي.

**۵۷۴. سيميالوژي (semiology):** هغه پوهه چې نښې څېړي؛ نښپوهنه.

پخوانی تعريف يې په دې ډول دی: هغه پوهه چې د ناروغۍ نښې يا علامتونه څېړي. سيمپټوماټولوژي.

**۵۷۵. سوشيالوژي (sociology):** هغه پوهه چې ټولنه، د انسان ټولنيز تعاملونه او هغه قوانين او بهيرونه تر څېړنې لاندې نيسي چې خلک، نه يوازې د انفرادي وګړو په توګه بلکې د ټولنو، ډلو او ادارو د غړو په توګه، له يو بل سره پيوستوي او يا هم جلا کوي.

**۵۷۶. سومنالوژي (somnology):** د خوب د ګډوډيو او اختلالونو طبي درملنه او څېړنه د سومنالوژي په نوم يادېږي.

**۵۷۷. سيمبالوژي (symbology):** د سمبولونو څېړنه يا کارونه د سبمالوژي په نوم يادېږي.

**۵۷۸. سېنټالوژي (saintology):** وګورئ: هاګالوژي.

**۵۷۹. ساليکالوژي (salicology):** هغه پوهه چې د ولې (ببد) ونې تر څېړنې لاندې نيسي.

**۵۸۰. سېټانالوژي (satanology):** هغه پوهه چې شيطان تر څېړنې لاندې نيسي.

**۵۸۱. سايزمولوژي (seismology):** هغه پوهه چې د ځمکې هغه داخلي اهتزاز (رپېدا) څېړي چې د طبيعي يا غيرطبيعي سرچينو له امله پېښه شوې وي، لکه زلزله.

**۵۸۲. سيلينالوژي (selenology):** هغه پوهه چې (زموږ د شمسي نظام) سپوږمۍ څېړي.

**۵۸۳. سيماټالوژي (sematology):** هغه پوهه چې نښې، په تېره لفظي نښې چې د تفکر او استدلال په عمليه کې کارېږي، تر څېړنې لاندې نيسي. هغه پوهه چې داسې ژبه څېړي چې د نښو په واسطه بيان شوې وي.

**۵۸۴. سيمينالوژي (semenology):** هغه پوهه چې (د نارينه) مني څېړي.

**۵۸۵. سيميټالوژي (Semitology):** هغه پوهه چې سامي ژبې او ادبيات او د سامي ژبو ويونکو تاريخ تر څېړنې لاندې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۸۶. سوماټالوژي (somatology):** هغه پوهه چې د انسانانو فزیکي طبیعت څېړي.

**۵۸۷. سوفرالوژي (sophrology):** هغه تخنیک چې د فشار د کمښت او د روغتیا د ودې لپاره یوه ډله فزیکي او ذهني تمرینونه په ځان کې رانغاړي.

**۵۸۸. سپازمالوژي (spasmology):** د نیورولوژي هغه څانګه چې تشنجوالی (سپازم) او د هغه تنظیم څېړي.

**۵۸۹. سپیلیالوژي (speleology):** هغه پوهه چې سمڅې څېړي. د سمڅو موندلو تفریحي بوختیا ته هم ویل کېږي.

**۵۹۰. سپرمالوژي (spermology):** هغه پوهه چې تخمونه څېړي.

**۵۹۱. سپلینالوژي (splenology):** هغه پوهه چې توری (طحال) څېړي.

**۵۹۲. سپنګالوژي (spongology):** هغه پوهه چې سفنجې څېړي.

**۵۹۳. سټاسالوژي (stasiology):** هغه پوهه چې سیاسي ګوندونه څېړي.

**۵۹۴. سټیریالوژي (stereology):** هر هغه تخنیک چې له دوه بعدي انځورونو څخه د درې بعدي معلوماتو د ترلاسي لپاره کارول کېږي، د سټیریالوژي په نوم یادېږي.

**۵۹۵. سټوریالوژي (storiology):** هغه پوهه چې ولسي کیسي (نکلونه) مطالعه کوي.

**۵۹۷. سومرالوژي (Sumerology):** هغه پوهه چې لرغونی سومیري تمدن څېړي.

**۵۹۸. سینیکالوژي (synecology):** د ایکالوژي او آټیکالوژي هغه څانګه چې داسې ارګانیزمونه مطالعه کوي چې د یوه واحد په توګه ژوند کوي.

**۵۹۹. ساینټالوژي (Scientology):** هغه عقیدوي سیستم چې ځینې مذهبي اړخونه لري او په ۱۹۵۲ز کال کې د ران هوبرډ د لارښوونو له مخې رامنځته شو.

**۶۰۰. سکولیکالوژي (scolecology):** هغه پوهه چې چینجي څېړي.

**۶۰۱. سیماسالوژي (semasiology):** معناپوهنه؛ د ژبپوهنې هغه څانګه چې د یوه لغت معنا، د هغه فونیټیک جوړښت ته له پام پرته، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۰۲. سینډانولوژي (sindonology):** هغه پوهه چې له مذهي لیدلوژي د تورین ټوکر (shroud of turin) مطالعه کوي.

**۶۰۳. سوټیریالوژي (soteriology):** هغه پوهه چې نجات (یا کفاره) څېړي.

**۶۰۴. سویټالوژي (Sovietology):** هغه پوهه چې شوروي اتحاد تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۰۵. سپېکټرالوژي (spectrology):** هغه پوهه چې طیف تر څېړنې لاندې نیسي. یا: هغه پوهه چې ارواوې څېړي.

**۶۰۶. سفیګمالوژي (sphygmology):** هغه پوهه چې نبض څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶۰۷. سټوماټالوژي (stomatology):** هغه پوهه چې خوله، د خولې اختلالونه او ناروغۍ (رنځونه) څېړي.

**۶۰۸. سټريټالوژي (streetology):** هغه پوهه چې د ښاري پلان ګذارۍ په زمينه کې کوڅې او سرکونه څېړي.

په عاميانه ډول، سټريټالوژي هغې تجربې ته ويل کېږي چې په کوڅو کې له ژوند کولو څخه لاسته راغلې وي.

**۶۰۹. سوسيډالوژي (suicidology):** هغه پوهه چې د ځانوژنې لاملونه او د هغو خلکو اغېزې چې په لاسي ډول ځانوژنه کوي، تر څېړنې لاندې نيسي.

**۶۱۰. سينپټالوژي (synaptology):** هغه پوهه چې ساينپسونه مطالعه کوي.

**۶۱۲. سيفيلالوژي (syphilology):** هغه پوهه چې اتشک او د هغه درملنه څېړي.

**۶۱۳. سکوټو بيالوژي (scotobiology):** هغه پوهه چې پر ژونديو ارګانيزمونو او بيالوژيکو بهيرونو د تيارې (تورتم) اغېزې څېړي.

**۶۱۴. سروو-وايرولوژي (servovirology):** هغه پوهه چې په وينه کې شته ويروسونه څېړي.

**۶۱۷. سوشوبيالوژي (sociobiology):** هغه پوهه چې په انسانانو او ژوو کې د ټولنيز چلند د څېړلو لپاره د ارتقايي (تکاملي) بيالوژۍ اصول پلي کوي.

**۶۱۸. سپرمټالوژي (spermatology):** هغه پوهه چې سپرم مطالعه کوي.

**۶۱۹. سټاټيسټالوژي (statistology):** هغه پوهه چې احصايه څېړي.

**۶۲۰. سټيماټولوژي (stemmatology):** هغه پوهه چې د يوه متن ګڼې نسخې په دې موخه څېړي تر څو له لاسه تللې اصلي نسخه يې بېرته ورغول شي.

**۶۲۱. سټوچيالوژي (stoichiology):** د فزيولوژي هغه برخه چې هغه اصول او عناصر څېړي چې حيواني نسجونه سازوي.

**۶۲۲. سټروماټالوژي (stromatology):** هغه پوهه چې د طبقه، طبقه شوو تيږو منځته راتګ يا جوړښت څېړي.

**۶۲۳. سينډيزمالوژي (syndesmology):** د اناټومۍ هغه څانګه چې ليګامنټونه څېړي.

**۶۲۴. سينيچيالوژي (synechiology):** د شيانو ترمنځ د علت و معلول د اړيکې ماوراء الطبيعي عقيده د سينچيالوژي په نوم يادېږي.

**۶۲۵. سيډمنټالوژي (sedimentology):** هغه پوهه چې طبيعي رسوب او هغه بهيرونه چې له مخې يې رسوبونه سازېږي، تر څېړنې لاندې نيسي.

**۶۲۶. سپيليا بيالوژي (speleobiology):** د سمڅو بيالوژي ته سپيليابيالوژي ويل کېږي.

**۶۲۷. سپلنکنالوژي (splanchnology):** هغه پوهه چې د بدن داخلي غړي څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶۲۸. سټرابیزمالوژي (strabismology):** هغه پوهه چې سټرابیزم او تړلي صورتونه تر څېړنې لاندې نیسي. سټرابیزم د لید هغه نیمګړتیا ده چې په هغه کې یوازې سترګه پر یوه شي تمرکز کولی شي او دا بله سترګه کار نه کوي.

**۶۲۹. سیسټمالوژي (systematology):** هغه پوهه چې سیسټموالی څېړي. یا: هغه پوهه چې سیسټمونه او د هغو سازېدل څېړي.

**۶۳۰. سوشوپتالوژي (sociopathology):** هغه پوهه چې سوشوپاتان څېړي. سوشوپات هغه کس ته ویل کېږي چې د ټولنې ضد شخصیتي اختلال لري او له خپل ځان نه د ټولنې ضد چلند ښکاروي او دغه ډول چلند معمولاً د یوه کس د لومړنیو کلونو په ژوند کې د پېښو ټولنیزو او چاپېریالي فکټورونو پایله وي.

**۶۳۱. سوشوفونولوژي (sociophonology):** د ژبپوهنې هغه څانګه چې د اواز پوهنې، ټولنــژبپوهنیز اړخونه څېړي؛ د ټولنیزې ژبپوهنې او فونولوژۍ ترمنځ تعامل ته سوشوفونولوژي ویل کېږي.

**۶۳۲. سوماټو ټایپولوژي (somatotypology):** هغه پوهه چې سوماټو ټایپونه (یا د بدن ډول/کالبد) څېړي.

**۶۳۳. سیمپټو ماټولوژي (symptomatology):** هغه پوهه چې د ناروغیو علایم څېړي.

**۶۳۴. سیسټمز بیالوژي (systems biology):** هغه پوهه چې د بیالوژیکو سیسټمونو ترمنځ پېچلي تعاملونه (اړیکې) څېړي. یا: هغه پوهه چې د پېچلو، ډاینامیکو غیر بیالوژیکو سیسټمونو د خود تنظیمۍ چلند څېړي.

**۶۳۵. سایفوناپټرالوي (siphonapterology):** هغه پوهه چې وردې او د سایفوناپترا ډلې نور حشرات څېړي.

**۶۳۷. سپېس ټکنالوژي (space technology):** د برنۍ فضا د پلټنې او کارونې لپاره د ساینس او انجینرۍ کارونه د سپېس ټکنالوژي تر عنوان لاندې راځي. یا: هره هغه ځانګړې ساینسي یا انجینري پوهه چې په دې ډګر کې کارېږي.

**۶۳۸. سیریو پي زوټیالوژي (sereopizootiology):** هغه پوهه چې د وینې د حیواني ناروغیو اپیډمیالوژي او خوځښتونه (حرکات) څېړي.

**۶۳۹. سوشل سایکالوژي (social psychology):** د فرد او ټولنې ترمنځ تعامل (فعل و انفعال) ته سوشل سایکالوژي ویل کېږي. یا: هغه پوهه چې د خلکو او ډلو د تعامل (متقابلو اړیکو) څرنګوالی څېړي؛ ټولنیزه ارواپوهنه.

**۶۴۰. سوشو مایکروبیالوژي (sociomicrobiology):** هغه پوهه چې مایکروبیال ټولنه څېړي.

**۶۴۱. سرفېس ایټمولوژي (surface etymology):** د یوې کلمې (اصطلاح) ظاهري آرپوهه چې په هغو اجزاوو ولاړه وي چې د ژبې په اوسنۍ بڼه کې پېښېږي، لکه earth + -en د

(c) ketabton.com: The Digital Library

earthen لپاره چې په زړه انګلش ژبه کې د eorthene په ډول وو؛ سطحي آرپوهه یا ظاهري آرپوهه.

**۶۴۲. سوشل انتروپولوژي (social anthropology):** کلتوري وګړپوهه؛ د وګړپوهنې هغه څانګه چې انساني چلند، کلتور او ټولنیز تعامل تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۴۳. ساینټیفیک میتوډلوژي (scientific methodology):** د مشاهدې وړ نړۍ په هکله د یوې پوښتنې د ځواب موندلو سیستماټیکه لاره د ساینټیفیک میتوډولوژي په نوم یادېږي.

**۶۴۴. سټرکچرل انتروپولوژي (structural anthropology):** هغه پوهه چې انساني جسم مطالعه کوي؛ اناټومي. یا: هغه پوهه چې په بشري ټولنو کې ټولنیز جوړښتونه څېړي. یا: هغه پوهه چې د رغښتوالي د تیورویو له مخې ، په تېره هغه چې په فرانسوي بشرپوه کلاډ لېوي سټراس پورې اړوند دي، بشري ټولنه څېړي.

**۶۴۵. سیګنالوژي (tsiganology):** هغه پوهه چې جټان څېړي.

## ف

**۶۴۶. فیټالوژي:** هغه پوهه چې جنین تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۴۸. فسټیلوژي (festilogy):** هغه پوهه چې د کلیسا جشنوارې څېړي.

**۶۴۹. فسټولوژي (festology):** د مارټیرولوژي هغه څانګه چې د نمانځ ورځې څېړي.

**۶۵۰. فاسیلوژي (fossilogy):** هغه پوهه چې فاسیلونه څېړي.

**۶۵۱. فرومالوژي (fromology):** هغه پوهه چې پنیر څېړي.

**۶۵۲. فنګالوژي (fungology):** هغه پوهه چې فنجي څېړي.

**۶۵۳. فېریالوژي (fairyology):** هغه پوهه چې ښاپیرۍ څېړي.

**۶۵۴. فیمنالوژي (feminology):** هغه پوهه چې ښځې څېړي.

**۶۵۵. فیوټرالوژي (futurology):** په علم، ټکنالوژي او ټولنه کې د راتلونکو پرمختګونو علمي او ساینسي وړاندوینه فیوټرالوژي بلل کېږي.

**۶۵۶. فارسټالوژي (forestology):** هغه پوهه چې ځنګلونه څېړي.

**۶۵۷. فلامنکالوژي (flamencology):** هغه پوهه چې فلامنکو (د اسپانیې د ولسي موسیقۍ او نڅا یو ژانر) څېړي.

**۶۵۸. فیټوپټالوژي (fetopathology):** هغه پوهه چې د جنین پټالوژي څېړي.

**۶۵۹. فوک ایټمولوژي (folk etymology):** هغه آرپوهه چې له آرپوهنیزې پوهې او تجربې پرته د یوه عادي ویونکي د بې بنسټه قضاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې په ناسم ډول د یوه لغت آر او ریښه تشریح کوي.

**۶۶۰. فارالوژي (pharology):** هغه پوهه چې رڼا کورونه یا د رڼا خپروني نورې بنې څېړي.

**۶۶۱. فینالوژي (phenology):** هغه پوهه چې پر دوراني بیالوژیکو پدیدو د اقلیم اغېزې څېړي.

**۶۶۲. فیلالوژي (philology):** هغه پوهه چې تاریخي ژبپوهنه له بشري اړخه څېړي.

په فلسفه کې، د زده کړې او ادب مینه او یا څېړنه د فیلالوژي په نوم یادېږي.

**۶۶۳. فونولوژي (phonology):** هغه پوهه چې په یوه ژبه کې د اوازونو دندې، اوازونه، څپه ییز جوړښتونه، خج، فشار، آهنګ او نور هغه غړونه چې په یوه ژبه کې ځانګړي واحدونه جوړوي، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۶۴. فوټالوژي (photology):** د فزیک هغه څانګه چې رڼا او د هغې اغېزې څېړي.

**۶۶۵. فایکالوژي (phycology):** هغه پوهه چې الجي څېړي.

**۶۶۶. فایټولوژي (phytology):** هغه پوهه چې بوټي (نباتات) څېړي؛ بوټاني.

**۶۶۷. فالالوژي (phallology):** هغه پوهه چې د نارینه تناسلي غړی څېړي.

**۶۶۸. فلیبالوژي (phlebology):** هغه پوهه چې رګونه او د هغو ناروغۍ څېړي.

**۶۶۹. فرینالوژي (phrenology):** هغه پوهه چې د یوه کس د چلند او د ککرۍ د مورفولوژي (جوړښت) ترمنځ اړیکې څېړي.

**۶۷۰. فزیالوژي (physiology):** د بیالوژي هغه څانګه چې د ژوند یا ژوندۍ مادې (لکه غړو، نسجونو یا حجراتو) دندې او فعالیتونه او اړوندې فزیکي او کیمیاوي پدیدې څېړي.

یو پخوانی تعریف یې په دې ډول دی: هغه پوهه چې طبیعي شیان څېړي؛ طبیعي علوم.

**۶۷۱. فرېزیالوژي (phraseology):** هغه پوهه چې ټاکلي اصطلاحات څېړي. یا: هغه سبک چې له مخې یې په یوه لیکنه یا وینا کې ویونه او عبارتونه کارول کېږي.

**۶۷۲. فزیکالوژي (physicology):** د فزیک زوړ نوم.

**۶۷۳. فانټازمالوژي (phantasmology):** هغه پوهه چې روحاني موجودات یا خارق العاده مخلوقات څېړي.

**۶۷۴. فارماکالوژي (pharmacology):** هغه پوهه چې درمل، د هغو منشاء، ترکیب، درماني کارونه او ټاکسیکالوژي څېړي.

**۶۷۵. فارینګالوژي (phyaryngology):** هغه پوهه چې حنجره او د حنجرې د ناروغیو درملنه څېړي.

**۶۷۶. فوټوبیالوژي (photobiology):** هغه پوهه چې پر ژوندیو موجوداتو او بیالوژیکو پروسو د رڼا اغېزې څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶۷۷. فوټو جیولوژي (photogeology):** د جیولوژیکو ځانګړنو د سپړنې لپاره له فوټوګرافۍ څخه ګټه اخیستنه د فوټو جیولوژي په نوم یادېږي.

**۶۷۸. فایټو بیالوژي (phytobiology):** د بیالوژي هغه څانګه چې نباتات پکې شامل دي.

**۶۷۹. فینومینولوژي (phenomenology):** هغه پوهه چې د شعور جوړښتونه په داسې ډول څېړي چې د لومړي شخص له لیدلوري تجربه شوي وي. یا: هغه غورځنګ چې په ۱۹۰۵ شاوخوا کې د اډمنډ هسرل له خوا د همدې فلسفې پر بنسټ را پورته شو.

**۶۸۰. فایلماټالوژي (philematology):** هغه پوهه چې ښکلول (مچول) څېړي.

**۶۸۱. فایټوفزیالوژي (phytophysiology):** هغه پوهه چې د سبزیجاتو فزیالوژي څېړي.

**۶۸۲. فایټو ټکنالوژي (phytotechnology):** هره هغه بایوټکنالوژي چې له نباتاتو ګټه پورته کوي.

**۶۸۳. فوټو جیو مورفولوژي (photogeomorphology):** د جیولوژیکو پدیدو د شننې لپاره له فوټوګرافۍ څخه ګټه اخیستنه د فوټو جیو مورفولوژي په نوم یادېږي.

**۶۸۴. فارماکو انوارنمنټالوژي (pharmacoenvironmentology):** هغه پوهه چې د یوه ځانګړي درمل چاپېریالي اغېز څېړي.

## ک

**۶۸۵. کالالوژي:** هغه پوهه چې ښکلا څېړي. کالالوژي ته استیټکس یا ښکلاپوهنه هم وایي.

**۶۸۶. کالیالوژي (caliology):** هغه پوهه چې د مرغانو ځالې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۸۷. کارپولوژي (carpology):** هغه پوهه چې د تخمونو او مېوو جوړښت مطالعه کوي.

**۶۸۸. کارټولوژي (cartology):** هغه پوهه چې د یوې سیمې د جغرافیوي چوکاټ له مخې د چارټونو او نقشو جوړول تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۸۹. کورولوژي (chorology):** د کرونولوژۍ ساحوي معادل دی، په دې معنا چې کرونولوژي د پېښو وخت او زمان څېړي، خو کورولوژي د پېښو ځای او مکان څېړي. ډېر سیستماټیک تعریف یې په دې ډول دی: هغه پوهه چې د ځایونو او ساحو د رامنځته کېدو یا جوړښت نظم او ترتیب تر څېړنې لاندې نیسي.

په بیالوژي کې د ارګانیزمونو ساحوي وېش ته کورولوژي ویل کېږي.

**۶۹۰. کلینالوژي (clinology):** هغه پوهه چې تر بلوغ وروسته د ارګانیزم (ژوندي موجود) ویجاړتیا (ډیفارمېشن) یا ځوړتیا تر څېړنې لاندې نیسي.

**۶۹۱. کونالوژي (coenology):** هغه پوهه چې د ژوندیو موجوداتو هغه کلکسیون تر څېړنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې نيسي چې په يوه ايکوسيستم کې د يوې ټولنې په توګه له يو بل سره تعامل کوي. دغه کلکسيون د کونوز په نوم يادېږي او کونالوژي کلمه هم له همدې څخه منځته راغلې.

**۶۹۲. کاسمولوژي** (cosmology)**:** هغه پوهه چې فزيکي کاينات، د هغه جوړښت، حرکتونه، منشاء، تکامل او برخليک تر څېړنې لاندې نيسي. همدا رنګه، د کاينات د منشاء او فطرت ماورالطبيعي يا ميټافيزيکي څېړنې ته هم کاسمولوژي ويل کېږي.

**۶۹۳. کالسيالوژي (calceology):** هغه پوهه چې د پښو کېدلو توکي (لکه بوټان، څپلۍ، پڼۍ او داسي نور) څېړي، په تېره بيا د پښو کېدو تاريخي توکي.

**۶۹۴. کارډيالوژي (cardiology):** هغه پوهه چې د زړه جوړښت، دندې او ګډوډۍ تر څېړنې لاندې نيسي.

**۶۹۵. کرونولوژي (chronology):** هغه پوهه چې د وخت يا زمان له مخې د پېښو او واقعاتو د پېښېدو ترتيب په ګوته کوي.

**۶۹۶. کريسالوژي (chrysology):** د سياسي اقتصاد هغه څانګه چې د شتمنۍ توليد تر څېړنې لاندې نيسي.

**۶۹۷. کلرولوژي (colorology) :** هغه پوهه چې رنګونه څېړي.

**۶۹۸. کاميټالوژي (cometology):** د ستورپوهنې هغه څانګه چې لکۍ لرونکي ستوري مطالعه کوي.

**۶۹۹. کاميټالوژي (comitology):** هغه پوهه چې د کميټو د رامنځته کېدو، فعاليت، پراختيا او ډلبندۍ څرنګوالی څېړي.

**۷۰۰. کانکالوژي (conchology):** هغه پوهه چې نرم تنان (حلزون) او د هغو پوټکي تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۰۱. کرانيالوژي (craniology) :** هغه پوهه چې د انساني کپرۍ (کوپړۍ) فزيکي ځانګړنې تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۰۲. کريپټالوژي (cryptology):** هغه پوهه چې رياضيکي، ژبنۍ او نورې رمزي نقشې او د هغو تاريخونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۰۳. کيولينالوژي (culinology):** هغه پوهه چې د خوړو علم، د خوړو ټکنالوژۍ او د اشپزي د هنر له ترکيب او ګډولو څخه منځته راځي.

**۷۰۴. کېمپنالوژي (campanology):** هغه پوهه چې زنګونه (bell) د هغو جوړښت، تنظيم او غږ تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۰۵. کانسرولوژي (cancerology):** هغه پوهه چې سرطان څېړي.

**۷۰۶. کارسينالوژي (carcinology):** هغه پوهه چې د اوبو کلک پوټکي ژوي تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۰۷. کاکسالوژي (Caucasology):** هغه پوهه چې له تاريخي، ژبنۍ او جغرافيوي-سياسي اړخه د ققفاز سيمه تر څېړنې لاندې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۰۸. کانډرالوژي (chondrology):** د اناټومۍ هغه برخه چې کرپندوکي (غضروف) مطالعه کوي.

**۷۰۹. کریسمالوژي (chresmology):** هغه پوهه چې وړاندویني (پېش بېنۍ) څېړي.

**۷۱۰. کریستالوژي (Christology):** په عیسویت کې د علم هغه څانګه چې د مسیح ع فطرت او په تېره بیا دا چې انسان او خدای په څه ډول د نوموړي په شخصیت پورې اړه لري، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۱۱. کلایمټالوژي (climatology):** هغه پوهه چې اقلیم څېړي او د اقلیمونو د پدیدو او لاملونو په تړاو پلټنې ترسره کوي.

**۷۱۲. کاګنیټالوژي (cognitology):** د ذهن او چلند ګډ څانګیزه څېړنه د کاګنیټالوژي په نوم یادېږي او د ادراکي پوهنې په نوم هم پېژندل کېږي.

**۷۱۳. کاسمیټالوژي (cosmetology):** هغه پوهه چې سینګار توکي څېړي.

**۷۱۴. کریمنالوژي (criminology):** هغه پوهه چې جرم، مجرم او په تېره د مجرم چلند تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۱۵. کرایوبیالوژي (cryobiology):** هغه پوهه چې پر ژوندیو موجوداتو (ارګانیزمونو) د ټیټې تودوخې (درجه حرارت) اغېزې څېړي.

**۷۱۶. کلچرالوژي (culturology):** د ټولنیزو علومو هغه څانګه چې په ټولیز ډول کلتورونه تر څېړنې او تجزیې لاندې نیسي.

**۷۱۷. کاولوژي (chaology):** هغه پوهه چې بې نظمي او بې نظمه سیستمونه څېړي.

**۷۱۸. کریالوژي (cryology):** هغه پوهه چې واوره او یخ تر څېړنې لاندې نیسي، د کرایالوژي په نوم یادېږي. یو بل تعریف یې په دې ډول دی: د کنګل کولو یا کنګلتیا علم ته کرایالوژي ویل کېږي.

**۷۱۹. کیوبالوژي (cubology):** هغه پوهه یا بوختیا چې د روبیک مکعب (کیوب) حل کول تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۲۰. کاسټېلالوژي (castellology):** هغه پوهه چې کلاوې (حصار) څېړي.

**۷۲۱. کیموبیالوژي (chemobiology):** هغه پوهه چې پر بیالوژیکو سیستمونو د کیمیاوي مرکباتو اغېز څېړي. او یا: هغه پوهه چې پر بیالوژیک فعالیت د کیمیاوي جوړښت اغېز مطالعه کوي.

**۷۲۲. کیموایکالوژي (chemoecology):** هغه پوهه چې د ایکالوژي کیمیاوي اړخونه څېړي.

**۷۲۳. کروماټولوژي (crhomatology):** هغه پوهه چې رنګونه څېړي.

**۲۷۴. کولمبالوژي (collembology):** هغه پوهه چې springtail (یو ډول خوګۍ) څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۲۵. کوپ-پوډالوژي (copepodology):** هغه پوهه چې کوپ-پوډونه څېړي.

**۷۲۶. کاسموبیالوژي (cosmobiology):** هغه پوهه چې د کایناتو او ژوندیو موجوداتو ترمنځ اړیکې څېړي.

**۷۲۷. کرایټیریالوژي (criteriology):** هغه پوهه چې د استدلال سموالی او د علم د لاسته راوړنې لپاره اړین معیار تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۲۸. کیمریالوژي (chermorheology):** هغه پوهه چې د یوې مادې پر ویجاړېدو د کیمیاوي بدلون اغېز څېړي.

**۷۲۹. کرونوبیالوژي (chronobiology):** هغه پوهه چې پر بیالوژیکو سیستمونو د وخت او په تېره بیا د دوراني زمان اغېزې څېړي.

**۷۳۰. کرونوایکالوژي (chronoecology):** هغه پوهه چې پر ایکوسیستمونو د وخت اغېزې څېړي.

**۷۳۱. کمپیوټرالوژي (computerology):** هغه پوهه چې کمپیوټرونه او په کمپیوټرونو پورې تړلې هر اړخ تر څېړنې لاندې نیسي؛ کمپیوټرپوهنه

**۷۳۲. کاسمیټکالوژي (cosmeticology):** وګورئ: کاسمیټالوژي

**۷۳۳. کراکپوټالوژي (crackpotology):** هغه پوهه چې لېونیان یا غیرعادي کسان څېړي.

**۷۳۴. کریپټو زولوژي (cryptozoology):** هغه پوهه چې داسې حیوانات څېړي چې شتون یې نه وي ثابت شوی.

**۷۳۵. کارډیوسایټولوژي (cardiocytology):** د زړه د نسجونو سایټالوژي (حجره پوهنه) د کارډیو سایټولوژي په نوم یادېږي.

**۷۳۶. کرکټرالوژي (characterology):** هغه پوهه چې د وګړو چلند او کړه وړه څېړي.

**۷۳۷. کلیماټو ایکالوژي (climatoecology):** هغه پوهه چې پر ایکالوژي د اقلیم (هوا) تعامل یا اغېزې څېړي.

**۷۳۸. کولیوپټرالوژي (coleopterology):** هغه پوهه چې خزدکې څېړي.

**۷۳۹. کولو پروکټالوژي (coloproctology):** هغه پوهه چې د اطراح سیستم (لویو بولو وروستۍ برخې (لکه colon, rectum او anus) څېړي.

**۷۴۰. کرونا ویرولوژي (coronavirology):** هغه پوهه چې د کرونا ویروس څېړي.

**۷۴۱. کرایو انزایمولوژي (cryoenzymology):** هغه پوهه چې په ټیټه تودوخه کې انزایمولوژي څېړي. وګورئ: انزایمولوژي.

**۷۴۲. کرایو فزیالوژي (cryophysiology):** هغه پوهه چې په ټیټه تودوخه کې د حجراتو او نسجونو فزیالوژي څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۴۳. کرایو ایمونولوژي (cryoimmunology):** هغه پوهه چې په ټیټه تودوخه کې ایمونولوژي څېړي. وګورئ: ایمونولوژي.

**۷۴۴. کریپټو وایرولوژي (cryptovirology):** د قوي او زیانمنو کمپیوټري ویروسونو (سافټوېر) د ډیزاین لپاره له کریپټوګرافۍ څخه ګټه اخیستنه د کریپټو وایرولوژي په نوم یادېږي.

**۷۴۵. کارډیوپټالوژي (cardiopathology):** هغه پوهه چې د زړه ناروغۍ څېړي.

**۷۴۶. کارډیو راډیولوژي (cardioradiology):** هغه پوهه چې د زړه راډیولوژي څېړي. وګورئ: راډیولوژي.

**۷۴۷. کیمو ایمونو لوژي (chemoimmunology):** هغه پوهه چې د ایمونولوژي کیمیاوي اړخونه څېړي.

**۷۴۸. کامپلیمنټالوژي (complementology):** د ایمونولوژي هغه څانګه چې کامپلیمنټونه (د وینې هغه پروټین چې د دفاعي غبرګون پر مهال له انټي باډي سره مرسته کوي) تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۴۹. کانشنټالوژي (conscientiology):** هغه پوهه چې شعور (اګاهي) څېړي.

**۷۵۰. کارډیو فزیالوژي (cardiophysiology):** هغه پوهه چې د زړه او د وینې د مجراګانو فزیالوژي څېړي.

**۷۵۱. کیمیاوي بیالوژي (chemical biology):** هغه پوهه چې کیمیا او بیالوژي دواړه په خپل ځان کې رانغاړي.

**۷۵۲. کرونو فزیالوژي (chronophysiology):** هغه پوهه چې په بدن کې د فزیولوژیکو پروسو دوراني توپیرونه او انسجام تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۵۳. کلینیکو پټالوژي (clinicopathology):** هغه پوهه چې د یوې ناروغۍ نښې او علایم او په ټېره د هغو خپلمنځي اړیکې څېړي.

**۷۵۴. کرونو فارماکولوژي (chronopharmacology):** د فارماکولوژي هغه څانګه چې د درملو او د بدن د غبرګون تعامل څېړي.

**۷۵۵. کیبالوژي (Kibology):** د انټرنټ پر مخ (انلاین) دین چې جبزم «کیبو» پارې یې مشري کوي او تر ډېره په ساینټالوژي رشخند او ملنډې وهي. وګورئ: ساینټالوژي.

**۷۵۶. کیډالوژي (kidology):** هغه پوهه چې ملنډې، ټوکې او طنز تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۵۷. کینالوژي (kinology):** د فزیک هغه څانګه چې د حرکت قوانین څېړي.

**۷۵۸. کاریولوژي (karyology):** هغه پوهه چې د حجراتو هستې څېړي.

**۷۵۹. کونیالوژي (koniology):** هغه پوهه چې دوړې، پولن او هوایي ذرات څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۶۰. کي ټېنالوژي (ktenology):** هغه پوهه چې د خلکو وژنه څېړي. دغه اصطلاح د امريکايي ارواپوه او عصبپوه، ليو الکسنډر، له خوا جوړه شوې چې ريښې يې زړې يوناني ژبې ته غځېږي.

**۷۶۱. کيمټالوژي (kymatology):** هغه پوهه چې څپه ييز حرکت څېړي.

**۷۶۲. کينسيالوژي (kinesiology):** هغه پوهه چې د بدن حرکت څېړي.

**۷۶۳. کوريانولوژي (Koreanology):** هغه پوهه چې کوريا څېړي.

**۷۶۴. کرشنالوژي (Krishnology):** هغه پوهه چې د کرشنا تيولوژي څېړي. يا: په کرشنايزم کې د کرشنا مقام چې د مسيح ع له هغه مقام سره موازي ګڼل کېږي چې نوموړي ته په عيسويت کې ورکول شوی.

**۷۶۵. کريملينالوژي (Kremlinology):** هغه پوهه چې د يوه ځواکمن او پټ سازمان داخلي سياست څېړي.

يا: هغه پوهه چې د شوروي اتحاد د حکومت د لوړ پوړو چارواکو داخلي سياست تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۶۶. کوبريکالوژي (Kubrickology):** هغه پوهه چې د سټانلي کوبريک لاسته راوړنې يا پنځونې څېړي.

**۷۶۷. کرونو سايزمو لوژي (kronoseismology):** هغه پوهه چې په زحل ستوري کې د فشاري څپو خورېدل څېړي.

**۷۶۸. کوينالوژي (quinology):** هغه پوهه چې د کونينو کر او د کونين په توګه يې په درملو کې کارونه تر څېړنې لاندې نيسي.

## ګ

**۷۶۹. ګاربالوژي (garbology):** هغه پوهه چې د کثافاتو او خځلو د شننې او تجزيې له لارې يوه ټولنه يا کلچر تر څېړنې لاندې نيسي.

**۷۷۰. ګيزمالوژي (gizmology):** د پېچلو آلاتو کارونه يا څېړنه د ګيزمالوژي په نوم يادېږي.

**۷۷۱. ګوګالوژي (googology):** هغه پوهه چې ګوګل څېړي. يا: د معلوماتو د موندنې لپاره د ګوګل لټون ماشين کارونه د ګوګالوژي په نوم يادېږي. د يادونې وړ ده چې دغه کلمه د ملنډو په ډول په عاميانه ژبه کې کارېږي.

**۷۷۲. ګاسټرالوژي (gastrology):** هغه پوهه چې معده څېړي.

**۷۷۳. ګلاچيالوژي (glaciology):** هغه پوهه چې يخ او پر ځمکه د يخ اغېزې څېړي، په تېره د يخچالونو څېړنې ته ګلاچيالوژي ويل کېږي.

**۷۷۴. ګلاسالوژي (glossology):** هغه پوهه چې ژبې څېړي؛ ژبپوهنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۷۵. ګلاټالوژي (glottology):** هغه پوهه چې ژبې څېړي؛ ژبپوهنه.

**۷۷۶. نازیالوژي (gnoseology):** هغه پوهه چې په علمي او فلسفي ډول پوهه یا علم څېړي.

**۷۷۷. ګرافالوژي (graphology):** هغه پوهه چې لاسي لیک، په تېره بیا د یوه کس د اخلاقو د شنني د یوې وسیلې په توګه د نومورې لاسي لیک تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۷۸. ګاینوکالوژي (gynecology):** هغه پوهه چې د ښځو طبي پرابلمونه په تېره د تناسلي غړو اختلالونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۷۹. ګلایکو بیالوژي (glycobiology):** هغه پوهه چې د کاربو هایډرېټونو او ګلایکو سایډونو بیالوژیک رول څېړي.

**۷۸۰. ګراماټالوژي (grammatology):** هغه پوهه چې لیکني سیستمونه یا متنونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۸۱. ګایرو کرونولوژي (gyrochronology):** هغه میتود چې د یوه ستوري د وضعي حرکت د اندازه ګیرۍ له مخې د هغه د عمر اټکل کوي.

**۷۸۲. ګاینوکو پتالوژي (gynecopathology):** هغه پوهه چې په نوزېږي ماشوم پورې تړلې ناروغۍ یا هغه چې زیاتره پر ښځو اغېزه کوي، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۷۸۳. ګاسټرو انټرالوژي (gastroenterology):** هغه پوهه چې له خولې څخه تر مقعد پورې بشپړ اطراحي سیستم څېړي.

**۷۸۴. ګلاټو کرونولوژي (glottochronology):** هغه پوهه چې ژبې تر څېړنې لاندې نیسي او دا په ډاګه کوي چې یوه ورته ژبه په کوم وخت کې په نورو ژبو ووېشل شوه.

# ل

**۷۸۵. لوګالوژي (logology):** هغه پوهه چې ویونه څېړي. په دینپوهنه کې د لوړ حقیقت د موندنې لپاره د ویونو څېړنه د لوګالوژي په نوم یادېږي.

**۷۸۶. لوډولوژي (ludology):** هغه پوهه چې ګېمونه او د لوبو نور ډولونه څېړي.

**۷۸۷. لیمنالوژي (limnology):** هغه پوهه چې د تازه اوبو د ځایونو، په تېره جهیلونو او اوبډنډونو بیالوژیکي، فزیکي او جیولوژیکي خواص څېړي.

**۷۸۹. لیتالوژي (lithology):** هغه پوهه چې کاڼي څېړي او د هغو پر سپړنه او ډلبندي خاص ټینګار کوي.

**۷۹۰. لویمالوژي (loimology):** وګورئ: اپیډمیالوژي.

**۷۹۱. لکسیکالوژي (lexicology):** د ژبپوهنې هغه څانګه چې ویونه، د هغو طبیعت او معنا، د ویونو اجزاوې، د ویونو او همدا رنګه د هغو د معناوو ترمنځ اړیکې او ټوله وییپانګه تر څېړنې لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۹۲. لمفالوژي (lymphology):** هغه پوهه چې لمفاتیک سیستمونه څېړي.

**۷۹۳. لیریکالوژي (lyricology):** هغه پوهه چې لیریکونه (سندرې/اشعار) څېړي.

**۷۹۴. لارینګالوژي (laryngology):** د فزیالوژي هغه څانګه چې ستونی او د هغې اختلالونه څېړي.

**۷۹۵. لکټینالوژي (lectinology):** هغه پوهه چې لکټینونه څېړي.

**۷۹۶. لیبراټالوژي (librettology):** هغه پوهه چې د اوپرا کتابونه څېړي.

**۷۹۷. لیمنو بیالوژي (limnobiology):** د بیالوژي هغه څانګه چې د تازه اوبو حیوانات او نباتات څېړي.

**۷۹۸. لیټورجیالوژي (liturgiology):** هغه پوهه چې مذهبي عبادات، دعاګانې، سرودونه او مراسم څېړي.

**۷۹۹. لوډو موزیکالوژي (ludomusicology):** هغه پوهه چې د ویډیویي لوبو موسیقي څېړي.

**۸۰۰. لیپډوپټرالوژي (lepidopterology):** هغه پوهه چې شاپرکونه او ملخان څېړي.

**۸۰۱. لپراکنالوژي (leprechaunology):** هغه پوهه چې لپراکان (کوچني پېریان) تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۰۲. لیپډو کرونولوژي (lepidochronology):** هغه پوهه چې د پاڼو په مټ د نباتو عمر ټاکي.

**۸۰۳. لینګویستک ایکالوژي (linguistic ecology):** هغه پوهه چې له یو بل سره د ژبو د تعامل څرنګوالی او هغه ځایونه چې دغه ژبې پکې کارېږي، تر څېړنې لاندې نیسي؛ ژبنۍ ایکالوژي.

**۸۰۴. لېنګویج ټکنالوژي (language technology):** هغه ګډ څانګیز پوهه چې داسې کمپیوټري پوستغالي جوړوي چې انساني ژبه موډل، تجزیه او تولید کړای شي، بدلون پکې راولي او طبیعي ژبې ته د غبرګون ښودلو وړتیا ولري.

**۸۰۵. لینګویستک انتروپولوژي (linguistic anthropology):** د انتروپولوژي هغه څانګه چې ژبه او د ژبې کارونه (استعمال) تر څېړنې لاندې نیسي.

## م

**۸۰۶. مایولوژي (myology):** د بدن د غړو فزیولوژیکې څېړنې ته مایولوژي ویل کېږي.

**۸۰۷. مانولوژي (manology):** هغه پوهه چې انسان څېړي.

**۸۰۸. میسالوژي (mesology):** هغه پوهه چې د ارګانیزمونو او د هغو د چاپېریال ترمنځ خپلمنځي اړیکې څېړي؛ د ایکالوژي لپاره پخوانۍ اصطلاح.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸۰۹. میسالوژي (misology):** له استدلال او حجت څخه وېره د میسالوژي په نوم یادېږي.

**۸۱۰. میکسالوژي (mixology):** د ډول، ډول اجزاوو د ترکیب په واسطه د الکولي څښاکو جوړولو هنر د میکسالوژي په نوم یادېږي.

**۸۱۱. مورولوژي (morology):** هغه پوهه چې چټیات څېړي.

**۸۱۲. مایکولوژي (mycology):** هغه پوهه چې فنجي څېړي.

**۸۱۳. ماملوژي (mammalogy):** هغه پوهه چې تي لرونکي ژوي څېړي.

**۸۱۴. ماریالوژي (Mariology):** هغه پوهه چې پر مریم ع بحث کوي.

**۸۱۵. ماسټالوژي (mastology):** هغه پوهه چې سینې (تیونه) څېړي.

**۸۱۶. میډیالوژي (mediology):** د کلچر څېړنې ګډ څانګیز (interdisciplinary) میتود چې په ۱۹۷۹ ز کال کې د رېجس ډیبرې له خوا رامنځته شو او د انسان سمبولیک فعالیت او ټکنالوژۍ ته، په تېره د کلتوري لېږد د یوې وسیلې په توګه خاصه پاملرنه کوي. یا: هغه پوهه چې رسنۍ (ټلویزون، راډیو، ټولنیزې رسنۍ...) او د هغو اغېز څېړي.

**۸۱۷. میریالوژي (mereology):** هغه پوهه چې د یوه کل اجزاوې څېړي.

**۸۱۸. مټرالوژي (metrology):** هغه پوهه چې وزنونه، پیمانې او اندازه ګیرۍ څېړي.

**۸۱۹. مایکرولوژي (micrology):** هغه پوهه چې مایکروسکوپي اجسام او شیان څېړي.

**۸۲۰. میوزیالوژي (museology):** د موزیمونو (لرغونتونونو) ډیزاین، تشکیل او مدیریت ته میوزیالوژي ویل کېږي. یا: هغه پوهه چې موزیمونه څېړي.

**۸۲۱. میتالوژي (mythology):** هغه پوهه چې اسطورې یا افسانې څېړي.

**۸۲۲. ماجیرالوژي (magirology):** هغه پوهه چې پخلی (اشپزي) څېړي.

**۸۲۳. میازمالوژي (miasmology):** هغه پوهه چې ککړه هوا څېړي.

**۸۲۴. منرالوژي (mineralogy):** هغه پوهه چې منرالونه څېړي.

**۸۲۵. میسالوژي (missiology):** د عملي تیولوژي هغه څانګه چې د عیسوي مبلغ کار، پیغام او دریځ تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۲۶. مولینولوژي (molinology):** هغه پوهه چې میلونه (کارخونې) څېړي.

**۸۲۷. مورفولوژي (morphology):** هغه پوهه چې بڼه (شکل/حالت) او جوړښت تر څېړنې لاندې نیسي او د هغې پدیدې دندې په پام کې نه نیسي.

په ژبپوهنه کې، د مورفیمونو (ویونه او د هغو معنوي جوړښتي توکي) د داخلي جوړښت څېړنې ته مورفولوژي ویل کېږي؛ صرف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بیالوژي کې، د حیواناتو او نباتاتو د بنې او جوړښت څېړنې ته ویل کېږي.

په جیولوژي کې، د تیږو او ځمکښو جوړښت ته ویل کېږي.

**۸۲۸. موټیوالوژي (motivology):** هغه پوهه چې له ارواپوهنیز اړخه د خلکو موخې څېړي.

**۸۲۹. موزیکالوژي (musicology):** هغه پوهه چې موسیقي او یا د غږ فزیکي طبیعت څېړي.

**۸۳۰. ملریالوژي (malariology):** هغه پوهه چې ملریا څېړي.

**۸۳۱. مارټرالوژي (martyrology):** د شهیدانو په تېره اولیاوو فهرست چې د هغوی د کلیزو له مخې ترتیب شوی وي.

**۸۳۲. میکنالوژي (mechanology):** هغه پوهه چې ماشینونه او میخانیک څېړي.

**۸۳۳. ملیټالوژي (melittology):** هغه پوهه چې د شاتو مچۍ څېړي.

**۸۳۴. میټریالوژي (meteorology):** هغه پوهه چې اتوموسفیر، د اتوموسفیر پدېدې په تېره موسم او هوا حالاتو وړاندوینه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۳۵. میتوډولوژي (methodology):** هغه پوهه چې د یوې څانګې میتودونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۳۶. مرمیکالوژي (myrmecology):** هغه پوهه چې مېږي څېړي.

**۸۳۷. مېکروبیالوژي (macrobiology):** هغه پوهه چې لوی ژوندي ارګانیزمونه څېړي.

**۸۳۸. ماسټوزولوژي (mastozoology):** وګورئ: ماالوژي.

**۸۳۹. ممبرانولوژي (membranology):** هغه پوهه چې غشاوې څېړي.

**۸۴۰. مایکروبیالوژي (microbiology):** هغه پوهه چې کوچني ارګانیزمونه، په تېره پر انسان او نورو ژوندیو موجوداتو د هغو اغېزې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۴۱. مایکرو ایکالوژي (microecology):** هغه پوهه چې د کوچنیو ارګانیزمونو ایکالوژي څېړي.

**۸۴۲. مایکرو جیولوژي (microgeology):** د جیولوژي هغه څانګه چې مایکروسکوپي جوړښتونه او ساختمانونه څېړي.

**۸۴۳. مانسټرالوژي (monsterology):** هغه پوهه چې بلاګانې څېړي.

**۸۴۴. مایکوسیرالوژي (mycoserology):** هغه پوهه چې د وینې فنجي څېړي.

**۸۴۵. مالډیکټالوژي (maledictology):** هغه پوهه چې سپکاوی او کنځلې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۴۶. میریوټاپولوژي (mereotopology):** هغه تیوري چې میریولوژي او ټاپولوژي یو ځای کوي او د کل او جز ترمنځ اړیکې او د هغو ترمنځ شته بریدونه څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸۴۷. مېکروسوشيالوژي (macrosociology):** د سوشيالوژي (ټولنپوهنې) هغه څانګه چې د نفوسو او لويو جمعيتونو په سويه انساني تعاملونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۴۸. مګنيټوبيالوژي (magnetobiology):** هغه پوهه چې د مقناطيسي ساحو او بيالوژيکو سيستمونو ترمنځ تعامل څېړي.

**۸۴۹. ميکنوبيالوژي (mechanobiology):** هغه پوهه چې د بيالوژيکو سيستمونو ميخانيک (فزيکي قوې او تعاملونه) تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۵۰. ميټافزيالوژي (metaphsiology):** هغه پوهه چې د فزيکي جسم پر خلاف، ذهن او ژوند څېړي.

**۸۵۱. ميټاسايکالوژي (metapsychology):** د ذهن او ارواپوهنې فلسفي څېړنه د ميټاسايکالوژي په نوم يادېږي.

په اروايپوهنه کې يې دوهم تعريف دا دی چې: هغه ډله اصول چې د فروید پر اروايپوهنه حاکم دي.

په فلسفه کې هغې پوهې ته ويل کېږي چې دا څېړي چې بشري تجربې په څه ډول ادراک جوړوي، تصفيه کوي او هويت ته بڼه ورکوي.

**۸۵۲. مايکروسوشيالوژي (microsociology):** د ټولنپوهنې هغه څانګه چې ورځني، د کوچنۍ سطحې انساني تعاملونه، تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۵۳. مايکرو ټريبالوژي (microtribology):** د ټريبالوژي هغه څانګه چې د خورا کوچنيو سطحو ترمنځ تعامل څېړي؛ وګورئ: ټريبالوژي.

**۸۵۴. ميټومورفولوژي (mitomorphology):** د مايتوکاندريا مورفولوژي ته ويل کېږي.

**۸۵۵. ميټو فزيالوژي (mitophysiology):** د مايتوکاندريا فزيولوژي ته ويل کېږي.

**۸۵۶. مېکرو مورفولوژي (macromorphology):** هغه پوهه چې د يوه ارګانيزم، منرال، يا خاورې د يوه جز لوی جوړښتونه يا مورفولوژي څېړي چې له مرستندويه سترګې (مايکروسکوپ) پرته د ليدو وړ وي.

**۸۵۷. ميزو مټريالوژي (mesometeorology):** هغه پوهه چې د مايکرومټريالوژي په پرتله، په لويه کچه اتموسفيري پديدې تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۵۸. مايکرو منرالوژي (microminerology):** هغه پوهه چې کوچني منرالونه مطالعه کوي.

**۸۵۹. مايکرو مورفولوژي (micromorphology):** هغه پوهه چې د يوه ارګانيزم، منرال يا خاورې د يوه جز لطيف جوړښتونه يا مورفولوژي څېړي چې يوازې د مايکروسکوپ په واسطه د ليدو وړ وي.

**۸۶۰. مورفوفونالوژي (morphophonology):** د ژبپوهنې هغه څانګه چې فونيمونه او د مورفيمونو فونولوژيکه بڼودنه تر څېړنې لاندې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸۶۱. مایکرو متریالوژي (micrometeorology):** د متریالوژي هغه څانګه چې د یوې وړې سیمې لپاره چې څو کیلو متره قطر ولري، په وړه سطحه موسم او د هوا حالاتو مشاهده او سپړنه ترسره کوي.

**۸۶۲. مورفو فزیالوژي (morphophysiology):** هغه پوهه چې د بنې او فزیولوژیکو دندو ترمنځ خپلمنځي بیالوژیکي اړیکي څېړي.

**۸۶۳. مورفو سایکالوژي (morphopsychology):** هغه پوهه چې د څېرې د خواصو او شخصیت ترمنځ اتکلي مشابهت څېړي.

**۸۶۴. ملیسو پالینو لوژي (melissopalynology):** هغه پوهه چې له شاتو او مچیو څخه پیدا شوی پولن څېړي.

**۸۶۵. مالیکولر بیالوژي (molecular biology):** د بیالوژي هغه څانګه چې د ژوند مېکرو مالیکولونه، لکه پروټین، لیپو پروټین او هستوي تېزاب تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۶۶. مینسي کرونولوژي (mensichronology):** هغه پوهه چې د خښتو او نورو ودانیزو موادو د بعدونو او ترکیب له تجزیې وروسته د هغو عمر معلوموي.

**۸۶۷. مایکرو کلامټالوژي (microclimatology):** د اقلیم پوهنې هغه څانګه چې کوچني اقلیمونه څېړي.

**۸۶۸. ماریټایم ارکیالوژي (maritime archeology):** د لرغنپوهنې هغه څانګه چې بحرونو، جهیلونو او سیندونو ته ځانګړې ده.

# ن

**۸۶۹. ناوالوژي** (neology)**:** ناوا له یوناني څخه ژبې څخه راغلې چې د «عبادتځای» په معنا ده. ناوالوژي هغې پوهې ته ویل کېږي چې مقدس ځایونه، عبادتځایونه او سپېڅلي ودانۍ څېړي.

**۸۷۰. نیولوژي** (nealogy): د زولوژي یوه څانګه ده چې د یوه حیوان د ژوند د لومړنیو پړاوونو ترمنځ مورفولوژیکي اړیکي تر څېړنې لاندې نیسي.

**۸۷۱. نولوژي** (noology)**:** د هرې هغې پدیدې سیستماټیکه څېړنه او مطالعه چې له پوهېدو او پوهنې سره سروکار ولري. نو د یوناني ژبې ویوکی دی چې د «ذهن» معنا لري.

**۸۷۲. نیولوژي** (neology): هغه پوهه چې نیولوجیزم (د نوو ویونو جوړونه) څېړي.

یا: د نویو او عقلاني مذهبي نظریاتو و افکارو درلودل، د نیولوژي په نوم یادېږي.

**۸۷۳. ناسولوژي (nasology):** هغه پوهه چې پوزه څېړي.

**۸۷۴. نیډولوژي (nidology):** هغه پوهه چې ځالې څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸۷۵. نومولوژي (nomology):** هغه پوهه چې قوانين څېړي. يا: د عمومي فزيکي او منطقي قوانينو څېړنه د نومولوژي په نوم يادېږي. يا: هغه پوهه چې د ذهن قوانين څېړي؛ ذهني ارواپوهنه.

**۸۷۶. نوسولوژي (nosology):** هغه پوهه چې د ناروغۍ څېړنه، تشخيص، ډلبندي او سيستماټيکه پلټنه ترسره کوي.

**۸۷۷. نارکولوژي (narcology):** هغه پوهه چې د درملو تر حد زياته کارونه څېړي.

**۸۷۸. نيکرالوژي (necrology):** هغه پوهه چې مړينه يا مړی څېړي.

**۸۷۹. نيوټولوژي (neotology):** هغه پوهه چې يو نوی موندل شوی/کشف شوی شی، ځای، حيوان، حشره، منرال او داسې نور تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۸۰. نيفالوژي (nephology):** د ميټريالوژي هغه څانګه چې ورېځې مطالعه کوي.

**۸۸۱. نيورولوژي (neurology):** د طب هغه څانګه چې عصبي ګډوډۍ او همدا رنګه د مرکزي عصبي سيستم مغز او حرام مغز، اعصاب، غړي او د شاوخوا عصبي سيستم عصبي-عضلي مفصلونه تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۸۲. نوسټولوژي (nostology):** هغه پوهه چې زړښت څېړي.

**۸۸۳. نيونټالوژي (neontology):** هغه پوهه چې د روان عصر ژوندي ارګانيزمونه څېړي او له هغو موجوداتو سره کار نه لري چې نور شتون نه لري.

**۸۸۴. نيوسالوژي (neossology):** هغه پوهه چې کوچني مرغان څېړي.

**۸۸۵. نيفرالوژي (nephrology):** د طب هغه څانګه چې د پښتورګو دنده او ناروغۍ څېړي.

**۸۸۶. نومرالوژي (numerology):** هغه پوهه چې د اعدادو (يا د هغو ويونو توري چې د اعدادو استازيتوب کوي) ترمنځ صوفيانه اړيکې او همدا رنګه د فزيکي توکو او ژونديو شيانو فعاليت يا چلند څېړي.

**۸۸۷. نانوبيالوژي (nanobiology):** د بيالوژي هغه څانګه چې د نانو په کچه بيالوژيک تعاملونه څېړي.

**۸۸۸. ناراټالوژي (narratology):** هغه پوهه چې کيسه ييز (نرټيو) ساختمان څېړي.

**۸۸۹. نيونا ټولوژي (neonatology):** د طب هغه څانګه چې نو زېږي او په تېره ناروغه يا تر وخت دمخه نو زېږي ماشومان څېړي.

**۸۹۰. نيګرالوژي (niggerology):** هغه پوهه چې تورپوستي او په تېره هغه تورپوستي چې د مشکل جوړوونکو په توګه له ټولنې ويستل شوي وي، تر څېړنې لاندې نيسي.

**۸۹۱. نانوسايټولوژي (nanocytology):** د سايټولوژي لپاره د نانوټکنالوژي کارونه د نانوسايټولوژي په نوم يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸۹۲. نیورو بیالوژي (neurobiology):** هغه پوهه چې په خلکو او حیواناتو کې د اعصابو او مغزو دندې څېړي.

**۸۹۳. نیورو یورالوژي (neurourology):** د یورولوژۍ هغه څانګه چې د مثانې هغه اختلالونه څېړي چې د ستون فقرات په ټپونو او عصبي اختلالونو پورې اړه ولري.

**۸۹۴. نیوروسونولوژي (neurosonology):** د عصبي رګونو د عملیاتو لپاره د التراساؤنډ کارونه د نیوروسونولوژي په نوم یادېږي.

**۸۹۵. نیورو وایرولوژي (neurovirology):** د هغو ویروسونو علمي څېړنه چې عصبي سیستم ته د سرایت کولو وړتیا لري.

**۸۹۶. نانوټکنالوژي (nanotechnology):** د نانو ذراتو جوړول او د نانو متر په کچ کې د ماشینونو جوړول د نانوټکنالوژي په نوم یادېږي.

**۸۹۷. نیورو راډیولوژي (neuroradiology):** د عصبي سیستم راډیولوژي او په تېره د عصبي سیستم د ګډوډیو د تشخیص او درملنې لپاره د وړانګو کارونه د نیورو راډیولوژي په نوم یادېږي.

**۸۹۸. نیورو پتالوژي (neuropathology):** د عصبي سیستم پتالوژي (ناروغۍ یا د ناروغیو څېړنې) ته ویل کېږي.

**۸۹۹. نیورو کارډیالوژي (neurocardiology):** هغه پوهه چې د زړه او عصبي سیستم تعامل څېړي.

**۹۰۰. نیورو مورفولوژي (neuromorphology):** هغه پوهه چې د عصبي سیستم او د هغه د اجزاوو مورفولوژي څېړي.

**۹۰۱. نیورو فزیالوژي (neurophysiology):** د فزیالوژي هغه څانګه چې عصبي سیستم څېړي.

**۹۰۲. نیورو سایکالوژي (neuropsychology):** د نیورولوژي او درماني اراوپوهنې هغه څانګه چې د اراوپوهنیزو بهیرونو فزیولوژیک بنیادونه څېړي.

**۹۰۳. نیورو ټاکسیکالوژي (neurotoxicology):** هغه پوهه چې د عصبي زهرو په واسطه مسموم کېدل څېړي.

**۹۰۴. نیورو پالیو بیالوژي (neuropaleobiology):** د پالیو بیالوژي (یا نیورو بیالوژي) هغه څانګه چې د لرغونو حیواناتو عصبي سیستم څېړي.

**۹۰۵. نیورو فینومینولوژي (neurophenomenology):** هغه پوهه چې عصبپوهنه او پدیدوي مشاهده سره یو ځای کوي.

**۹۰۶. نیورو-افتلمالوژي (neuro-ophthalmology):** د نیورولوژي او افتلمالوژي هغه فرعي څانګه چې په عصبي سیستم پورې اړوند عیني پرابلمونه څېړي.

**۹۰۷. نیورو سایکو فزیالوژي (neuropsychophysiology):** هغه پوهه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عصبپوهنه، ارواپوهنه او فزیولوژي سره یو ځای کوي.

**۹۰۸. نیورو الکټرو فزیالوژي (neuroelectrophysiology):** هغه پوهه چې د نیورونونو برقي فعالیت څېړي.

**۹۰۹. نیوماټولوژي (pneumatology):** هغه پوهه چې د اروایي موجوداتو او پدیدو او په تېره د انسان او خدای ترمنځ تعامل څېړي.

# و

**۹۱۰. وینالوژي (vinology):** هغه پوهه چې شراب او شراب جوړونه څېړي؛ انګالوژي.

**۹۱۱. وایرولوژي (virology):** د مایکرو بیالوژي هغه څانګه چې ویروسونه او ویروسي ناروغۍ څېړي.

**۹۱۲. وکالوژي (vocology):** هغه پوهه چې غږ زېږوونکي وسایل څېړي.

**۹۱۳. ولنالوژي (vulnology):** هغه پوهه چې د ټپونو درملنه او ساتنه څېړي.

**۹۱۴. وینرالوژي (venereology):** هغه پوهه چې په جنسي نژدیوالي پورې مربوطې ناروغۍ او د هغو درملنه څېړي.

**۹۱۵. ورمیالوژي (vermeology):** هغه پوهه چې چینجي څېړي.

**۹۱۶. واکسینالوژي (vaccinology):** هغه پوهه چې د نوو واکسینونو جوړول او تولید څېړي.

**۹۱۷. وینریالوژي (venereology):** د طب هغه څانګه چې د جماع له لارې انتقال شوې ناروغۍ او د هغو درملنه څېړي.

**۹۱۸. وېکسي لالوژي (vexillology):** هغه پوهه چې بیرغونه څېړي.

**۹۱۹. ویکټیمالوژي (victimology):** هغه پوهه چې د یوه جرم قربانیان او په تېره هغه لاملونه څېړي چې ولې ځینې خلک ډېر زیات د جرمونو قرباني کېږي.

**۹۲۰. ولکنالوژي (volcanology):** هغه پوهه چې ولکانونه څېړي؛ vulcanology.

**۹۲۱. واټیکانولوژي (Vaticanology):** هغه پوهه چې د واتیکان سیاست، پرېکړې او د کار کولو طرز څېړي.

**۹۲۲. وایرو ایمونولوژي (viroimmunology):** هغه پوهه چې پر ایمونولوژیک سیستم د ویروسونو اغېز څېړي.

**۹۲۳. وېدرالوژي (weatherology):** هغه پوهه چې د هوا حالاتو د وړاندوینې لپاره کارېږي؛ میټریالوژي.

**۹۲۴. ووډ پیکرالوژي (woodpeckerology):** هغه پوهه چې رتکانک (یو ډول مرغه) څېړي. په انګلش کې ورته woodpecker وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هـ

**۹۲۵. هینولوژي (henology):** هغه فلسفي ډسکورس چې پر «یو یا احد» راڅرخي او په ځانګړي ډول په افلاطوني فلسفه کې څرګند شوی.

**۹۲۶. هیکسولوژي (hexology):** هغه پوهه چې د هېکس نښې تر څېړنې لاندې نیسي. هېکس هغو نښو ته ویل کېږي چې د پنسلوانیا جرمني خلکو به د خپلو ودانیو لپاره کارول تر څو له بدو ارواوو څخه په امان کې وي. هېکس یو هندسي ډیزاین وو او یو ستوری یا ګل به یې درلود چې په یوه دایروي ساحه کې به ځای پر ځای شوی وو.

**۹۲۷. هوډولوژي (hodology):** هوډولوژي ګڼ تعریفونه لري. په عموم کې هغې پوهې ته ویل کېږي چې پلی لارې څېړي.

بل خوا د مغزو په فزیولوژي کې، د مغزي حجراتو د خپلمنځي اړیکو څېړنې ته هوډولوژي ویل کېږي او د دې تعریف له مخې د بیالوژۍ یوه څانګه ګرځي.

په فلسفه کې د تړلو او مربطو ایډیاوو او نظریاتو مطالعې ته هوډولوژي ویل کېږي او د جغرافیې د یوې څانګې په توګه هغې پوهې ته ویل کېږي چې لارې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۲۸. هورولوژي (horology):** هغه پوهه چې وخت مطالعه کوي او همدا رنګه هغه فن، ساینس او ټکنالوژي تر څېړنې لاندې نیسي، چې وخت قیدوي یا ښیي لکه دېوالي ګړی، لاسي ګړی او لمریزه ګړی (سندیال) چې د سیوري د موقعیت له مخې وخت ښیي.

**۹۲۹. هاګالوژي (hagiology):** هغه پوهه چې د اولیاوو ژوند څېړي.

**۹۳۰. هاپلالوژي (haplology):** په یوه لغت کې له دوو تقریبا مشابه څپو څخه د یوې څپې حذف یا غورځولو ته هاپلالوژي ویل کېږي.

**۹۳۱. هلکالوژي (helcology):** هغه پوهه چې ناسورونه او د هغو درملنه څېړي.

**۹۳۲. هربالوژي (herbology):** هغه پوهه چې طبي بوټي او د هغو طبي ځانګړنې په تېره چې کله سره ترکیب شي، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۳۳. هایرولوژي (hierology):** هغه پوهه چې د ادیانو مقایسوي او تاریخي څېړنه کوي.

**۹۳۴. هیپالوژي (hippology):** هغه پوهه چې اسونه څېړي.

**۹۳۵. هیسټالوژي (histology):** هغه پوهه چې مایکروسکوپي جوړښتونه، کیمیاوي مرکبات، د نسجونو دندې او د حیواناتو او نباتاتو نسجي سیستمونه تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۳۶. هوپلالوژي (hoplology):** هغه پوهه چې په انساني جګړو کې ښکېله ټکنالوژي په تېره وسلې و زغرې، چلن او میتودونه تر څېړنې لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹۳۷. هرټالوژي (hortology):** هغه پوهه چې بڼ او بڼوالي څېړي. د بڼوالۍ هنر ته هم هرټالوژي ویل کېږي.

**۹۳۸. هایډرولوژي (hydrology):** هغه پوهه چې د اوبو ځانګړني، وېش او د ځمکې پر سطحه، خاوره، کاڼو او اتوموسفیر باندې د اوبو اغېزې تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۳۹. هایټولوژي (hyetology):** هغه پوهه چې ورښت (وریا) څېړي.

**۹۴۰. هایګالوژي (hygiology):** هغه پوهه چې د روغتیا تحفظ او تداوم څېړي.

**۹۴۱. هایګرالوژي (hygrology):** هغه پوهه چې د بدن سیاله ماده څېړي.

**۹۴۲. هیمنالوژي (hymnology):** هغه پوهه چې حمدونه او مناجات څېړي.

**۹۴۳. هیپنالوژي (hypnology):** هغه پوهه چې خوب څېړي.

**۹۴۴. هیمټالوژي (hematology):** هغه پوهه چې وینه او د وینې تولیدوونکي غړي څېړي.

**۹۴۵. هیمرالوژي (hemerology):** هغه پوهه چې کلیزې (کالنډرونه)، په تېره د خاصو ورځو د تشخیص او پېژندنې لپاره تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۴۶. هورټولوژي (heortology):** هغه پوهه چې مذهبي جشنوارې څېړي.

**۹۴۷. هیپټالوژي (hepatology):** هغه پوهه چې جګر، مثانه او پانکراس او د دې غړو درملنه څېړي.

**۹۴۸. هکسیکالوژي (hexicology):** هغه پوهه چې د ژوندیو موجوداتو او نورو ارګانیزمونو اړیکې او په عموم کې له شاوخوا شرایطو سره د هغو تعامل تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۴۹. هیریسالوژي (heresiology):** هغه پوهه چې کفر (عقیدوي انحراف) څېړي.

**۹۵۰. هرپټالوژي (herpetology):** هغه پوهه چې چرمښکې او ذوحیاتین څېړي.

**۹۵۱. هیټیټالوژي (Hittitology):** هغه پوهه چې د هټیټي وګړي، د هغو ژبه او کلچر څېړي. هیټیټي په اناتولیا کې د برونزو د پېر یو سلطنت وو.

**۹۵۲. هیسټرالوژي (hysterology):** هغه پوهه چې زیلانځی (رحم) څېړي.

**۹۵۳. هامارشیالوژي (hamartialogy):** د تیولوژي هغه څانګه چې د ګناه طبیعت او اغېزې څېړي.

**۹۵۴. هیموسایټالوژي (hemocytology):** هغه پوهه چې د وینې سایټالوژي څېړي.

**۹۵۵. هیپاټکالوژي (hepaticology):** هغه پوهه چې د کاڼي ګل څېړي.

**۹۵۶. هیسټوریالوژي (historiology):** هغه پوهه چې تاریخ څېړي؛ تاریخپوهنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹۵۷. هایډروبیالوژي (hydrobiology)**: هغه پوهه چې د داسې حیواناتو بیالوژي څېړي چې په اوبو کې ژوند کوي.

**۹۵۸. هایډرو ایکالوژي (hydroecology)**: هغه پوهه چې په لمدو ځمکو کې د اوبو او وحشي موجوداتو ترمنځ اړیکې څېړي.

**۹۵۹. هایډرو جیولوژي (hydrogeology)**: هغه پوهه چې تر ځمکې لاندې اوبه، په تېره د دې اوبو د شتون او خوځښت بیالوژیکې، فزیکي او کیمیاوي خواص څېړي.

**۹۶۰. هلمنتالوژي (helminthology)**: د زولوژي هغه څانګه چې هلمنتونه (پرازیتي چینجي) څېړي.

**۹۶۱. هیموپتالوژي (hemopathology)**: د پتالوژي هغه څانګه چې د وینې ناروغۍ څېړي.

**۹۶۲. هیستو سایټولوژي (histocytology)**: د هیسټولوژي او سایټولوژي ترکیب ته ویل کېږي.

**۹۶۳. همبرګرالوژي (hamburgerology)**: هغه پوهه چې د میکډانلډز له خوا معرفي شوه تر څو په خپلو فاسټ فوډ رستورانتونو کې خلکو ته کاري روزنه ورکړي.

**۹۶۴. هیموسټاسیالوژي (hemostaseology)**: هغه پوهه چې هیموسټاسیس (یا د وینې توقف) څېړي.

**۹۶۵. هیپو پتالوژي (hippopathology)**: هغه پوهه چې د اسونو ناروغۍ څېړي.

**۹۶۶. هیسټوپتالوژي (histopathology)**: هغه پوهه چې د مایکروسکوپي کچې نسجونه، په تېره هغه نسجونه چې د ناروغۍ له کبله غیرنورمال وي، تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۶۷. هیلیوسایزمالوژي (helioseismology)**: هغه پوهه چې په لمر کې د فشاري څپو خورېدل څېړي.

**۹۶۸. هیماټوپتالوژي (hematopathology)**: وګورئ: هیموپتالوژي.

**۹۶۹. هیسټو مورفولوژي (histomorphology)**: هغه پوهه چې د حجراتو د مورفولوژۍ د څېړنې لپاره له هیسټولوژي څخه استفاده کوي.

**۹۷۰. هیسټو فزیالوژي (histophysiology)**: هغه پوهه چې د حجراتو او نسجونو دندې څېړي.

**۹۷۱. هایډرو میټریالوژي (hydrometeorology)**: د متریالوژي هغه څانګه چې په اتموسفیر کې د اوبو د حالت پېښېدل، بدلونونه او خوځښت څېړي.

**۹۷۲. هیټرو فینومینولوژي (heterophenomenology)**: هغه پوهه چې د نورو خلکو شعور څېړي.

**۹۷۳. هیپاټو ګاسټرو انټرالوژي (hepatogastroenterology)**: د طب هغه څانګه چې د ځیګر، معدې، وړو کولمو او همدا رنګه د دې ټولو غړو د درملنې علم په ځان کې رانغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ی

**۹۷۴. یوفولوژي(ufology):** د UFO یا ناپېژانده الوتنیزو شیانو پوهې ته یوفولوژي ویل کېږي.

**۹۷۵. یورولوژي (urology):** د طب هغه څانګه چې د تشو بولو د جهاز او اړوند سیستم ګډوډۍ او اختلالات تر څېړنې لاندې نیسي.

**۹۷۶. یوکالوژي (eucology):** هغه پوهه چې دعاګانې مطالعه کوي. همدا رنګه د دعاګانو او ماثوراتو کتاب ته هم د یوکالوژي کلمه کارېږي.

**۹۷۷. یورانالوژي (uranology):** هغه پوهه چې اسمانانو او سماوي اجسام مطالعه کوي.

یا: د اورانوس ساینسي مشاهده او څېړنه د یورانالوژي په نوم یادېږي.

**۹۷۸. یورینالوژي (urinology):** هغه پوهه چې د ناروغ د روغتیایي حالت د تحلیل لپاره تشې بولې څېړي.

**۹۷۹. یورونالوژي (uronology):** د طب هغه څانګه چې تشې بولې څېړي.

**۹۸۰. یونیورسالوژي (universology):** هغه پوهه چې کاینات څېړي.

**۹۸۱. یورو پتالوژي (uropathology):** هغه پوهه چې د تشو بولو د جهاز ناروغۍ څېړي.

**۹۸۲. یورو راډیولوژي (uroradiology):** هغه پوهه چې د تشو بولو د جهاز راډیولوژي څېړي.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت شاه فراز

**ړانده ټول عمر پټې سترګې په امسا پسې ځي**

**بینا هغه دي چې هم لارې هم رهــبر بدلوي**

ارواښاد صدیق پسرلی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**